{قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ بَدَأَ الْخَلْقَ ثُمَّ اللَّهُ يُنْشِئُ النَّشْأَةَ الْآخِرَةَ إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ } [العنكبوت: ۲۰]

# د جغرافيې او نقشه پوهنې

# په زړه پوري معلومات


مُفتي ابُو سعِيد راشد

دجامعه قاسمیې استاد


نفیس خپرندویه ټولنه


Download from:aghalibrary.cm

## ځانګړنې

# د جغرافيې او نقشه پوهنې په زړه پوري معلومات

**ليکنه** : **مفتي ابوسعيد " راشد "**

**کمپوز اوډيزائن** : دليکوال په لاس

**لومړی چاپ** : ................................

**چاپ چارې**

---

**پېښــــور** : دنفيس خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه

کوړه خټک ، ميان اباد ، جامعه قاسميه

**دتليفون شمېره:** ٠٠٩٢٣٠٢٣٨٥٠٩٩٦/٠٣٤٥٢٧١٣٤٥٩

**برېښناليکونه**: abusaed١٢٣@gmail.com/abusaed١٢٣@yahoo.com

**د ((ندوة المدارس)) او ((جا معه قاسميه)) په نصاب کې منل شوی**


**دچاپ حقونه له ليکوال سره خوندي دي**

# ډالۍ !

- هغه ننګيالو ته چې د دين خپرولو په لاره کې يې عمرونه، مالونه او بلاخر سرونه قربان کړل.
- هغـو ته د اتفاق په مټ يې اسلامي نړۍ يوموټې ساتلې وه.
- اوسنۍ وېشلې اسلامي نړۍ ته چې د خپلمنځي اختلافونو له امله له پېړيو پېړيو کړېږي.
- د اسلامي نړۍ واکمنو ته چې د يتيمانو، کونډو زګېروي يې له خوبه نه شي ويښولی.

"راشد"

# دليكوال يادبنت




تقسيم الأقاليم السبعة كما رسمها البـيرونى

# سریزه

بسم الله الرحمن الرحيم

- **د جغرافیې پېژندنه**:

په لغت کې : جغرافیه یوناني ویوکی دی چې له دوه توریو(جیو: GEO) او (ګرافی: GRAPHY) څخه جوړ دی. چې "جیو "د ځمکې او "ګرافي " د پوهنې ، تشریح او لیکنې په معنا دی.

- **په اصطلاح کې** :

داسې علم دی چې په مرسته یې د ځمکنۍ کرې هر اړخیز معلوماته تر لاسه کیږي.

**تشریح**: ځمکه دوه ډوله نقشه او جوړښت لري:

**لومړی**: الهي نقشه: لکه: سیندونه، وچه ، جزیرې،بحیرې، غرونه ، نهرونه اوداسې نور.

**دویم**: انساني نقشه: لکه: سیاسي سرحدونه (پولې) ، ښارونه، کلي، او د خلکو په لاس جوړ نهرونه او داسې نور.

ددې دواړه نقشو پېژندلو ته "جغرافیه" وایي.

- **موضوع**: ځمکه او د هغې جوړښت.
- **غرض** : د ځمکنۍ کرې په اړه هراړخیز معلومات تر لاسه کول.

- **ګټې**: جغرافیه د برې ګټې لري:

١-: **اعتقادي ګټې**: د ځمکې په مخ د الهي قدرت د نښو پېژندنه:

{ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ (١٩٠) } [آل عمران: ١٩٠]

{قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ بَدَأَ الْخَلْقَ ثُمَّ اللَّهُ يُنْشِئُ النَّشْأَةَ الْآخِرَةَ إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ } [العنكبوت: ٢٠]

{وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْقُرَى الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا قُرًى ظَاهِرَةً وَقَدَّرْنَا فِيهَا السَّيْرَ سِيرُوا فِيهَا لَيَالِيَ وَأَيَّامًا آمِنِينَ (١٨)} [سبأ: ١٨]

٢-: **ديني ګټې**: د ځينې عبادتونو لکه، لمونځ ، حج، جهاد لارې چارې معلومول.

٣-: **اقتصادي ګټې**: د تجارت په مخ ببولو له پاره د هرې سيمې او هيواد اړتياوې پېژندل او بيا د هغو د پوره کولو له لارې خپل تجارت ته وده ورکول.

{فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ } [الجمعة: ١٠]

{وَهُوَ الَّذِي سَخَّرَ الْبَحْرَ لِتَأْكُلُوا مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا وَتَسْتَخْرِجُوا مِنْهُ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا وَتَرَى الْفُلْكَ مَوَاخِرَ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ } [النحل: ١٤]

{رَبُّكُمُ الَّذِي يُزْجِي لَكُمُ الْفُلْكَ فِي الْبَحْرِ لِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ إِنَّهُ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا } [الإسراء: ٦٦]

{ وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ يُرْسِلَ الرِّيَاحَ مُبَشِّرَاتٍ وَلِيُذِيقَكُمْ مِنْ رَحْمَتِهِ وَلِتَجْرِيَ الْفُلْكُ بِأَمْرِهِ وَلِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ } [الروم: ٤٦]

{وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِنْ فَضْلِ اللَّهِ} [المزمل: ٢٠]

۴-: **تاریخي ګټې**: په تېره زمانه کې د بدو خلکو په انجام پوهېدل لکه چې الله جل جلاله وايي:

{قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ ثُمَّ انْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ } [الأنعام: ١١]

{ قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِينَ} [النمل: ٦٩]

{وَكَأَيِّنْ مِنْ آيَةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يَمُرُّونَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُونَ } [يوسف: ١٠٥]

او همدار از د نېکانو او ښو خلکو ځایونه لیدل او د هغوی له لوړو ارادو، او کلکو ایمانونو څخه عبرت اخیستل لکه چې الله جل جلاله وايي:

{ لَقَدْ كَانَ فِي قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِأُولِي الْأَلْبَابِ مَا كَانَ حَدِيثًا يُفْتَرَى وَلَكِنْ تَصْدِيقَ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ كُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ (١١١)} [يوسف: ١١١]

۵-: **سیاسي ګټې**:

هغه داسې چې د ځمکې په جوړښت له پوهېدلو وروسته بیا سړی په دې پوهیږي چې کومه برخه یې مهمه او کومه یې غیر مهمه ده، د بېلګې په ډول روسان ولې له ټولو هیوادونو وتلي خو له چیچینا څخه نه وزي؟.

افغانستان ولې هروخت د پردو تر یرغل لاندې وي؟.

اسرائیلو ته ولې د فلسطین په زړه کې ځای ورکړل شو؟. او همدا راز لوېدیځه غاړه، او غزه چېرته او د کومو دریابونو په غاړه پراته دي؟.

۶-: **علمي ګټې**:

ځرنګه چې انسان په ځمکه اوسيږي. نو ځکه يې په هر علم او هر کتاب کې د ځای په ځای د ځمکې د کومې برخې يادونه کيږي ، نو که موږ ته د ځمکې دا برخه معلومه نه وي، نو بيا د کتاب په دې ځای نه شو پوهېدلی، د بېلګې په ډول په قرآن کريم کې د جودي غره، بابيل ښار، مجمع البحرين يادونه شوې، په حديثونو او سېرت کې د احد غره ، حجاز ، جزيرة العرب او داسې نورو يادونه شوې نو که د ځمکې په مخ دا ځايونه راته معلوم نه وي بيا موږ د قرآن ، حديث او سيرت په دې برخو نه شو پوهېدلی.

**۷-: فکري ګټې:**

همدا يوا ځنی علم دی چې انسان ته د خپل تېر په اړه فکرمند کوي ، او د خپل پخواني کور او ټاټوبي مينه يې په زړه کې راټوکوي، د بېلګې په ډول: اسلامي نړۍ سړي ته ورپېژني ، د هغې جغرافيايي موقعيت ، له تجارتي او اقتصادي پلوه يې ارزښت ، په تېر کې يې يووالی ، او اوس يې ټوټه کېدل او د هغه لاملونه ، داټولې هغه خبرې دي چې د علم جغرافيه له لارې تر لاسه کېدلی شي.

**۸-: صحافتي ګټې:**

همداراز په ورځنيو پېښو د ځان پوهولو له پاره هم دا علم ډېر ګټور دی ، د بېلګې په ډول په خبري رسينو کې خبر راشي چې په بحر اقيانو( بحر ظلمات ) کې د اسې طوفاني څپې راروانې دي چې له غاړې يې سوونو کلومتره لرې پراته هيوادونه به هم ورسره زيانمن شي.

که موږ په جغرافيه نه پوهيږي او د بحر اقيانوس موقعيت راته معلوم نه وي نو بيا به څه پوهيږو چې کوم هيوادونه له دې طوفان څخه په يقيني توګه اغېزمن کېدلی شي، او د کومو د زيانمن کېدلو امکان شته ؟. او ايا زموږ ګران ټاټوبي "افغانستان" ته هم دا څپې رارسېدلی شي او که نه؟.

**۹**-: **سیاحتي ګټې**:

علم جغرافیه دومره ګټور علم دی ځوک چې په کور ناست دی هغه ته هم او ځوک چې د هیوادونو په سیاحت وتلی هغه ته هم ګټه لري، په کور ناست سړي ته خو له لیدلو پرته د یوه هیواد په اړه معلومات ورکوي چې د اړتیا په مهال ګټه ترې اخیستلی شي، او بله دا چې لرې پرتو هیوادونو، او تاریخي ځایونو ته د تللو تلوسه یې په زړه کې پیدا کیږي. چې په پایله کې یې ددې ایت له حکم سره سم عمل کوي:

{قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ بَدَأَ الْخَلْقَ ثُمَّ اللَّهُ يُنْشِئُ النَّشْأَةَ الْآخِرَةَ إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ } [العنكبوت: ۲۰]

او د هیوادونو په سفر وتلي کس ته بیا دا ګټه لري چې هر هیواد ته ځي د هغه اجمالي خاکه او لنډ معلومات یې په ذهن کې وي، چې دلته کوم ځایونه د کتلو دي ؟. کوم ځایونه یې ښکلي او ښایښته ښارونه دي. او داسې نور.

## د جغرافیې ډولونه:

په ټوله کې جغرافیه څلور ډولونه لري:

۱- : **طبعي جغرافیه** :

داسې علم دی چې د ځمکې له خدايي جوړښت او نقشې څخه بحث کوي. لکه: وچه څومره ؟ اوبه څومره؟ او داسې نور....

۲-: **قراني جغرافیه** :

داسې علم دی چې په قرآن کریم ، نبوي حدیثونو او اسلامی تاریخ د یاد شویو ځایونو او سیمو څېړنه کوي.لکه: مجمع البحرین چرته دی؟ بحېره طبریه کومه؟ او په کوم هیواد کې واقع ده؟

۳- **سیاسي جغرافیه** :

داسې علم دی چې د ځمکې په مخ د انساني تقسیمونو څېړنه کوي. لکه: د هیوادو پولې، مساحت ، رقبه ، ښارونه او داسې نور...

۴-: **ریاضیاتي جغرافیه** :

داسې علم دی چې له ځمکې څخه د جسماني عالم د یوه غړي په حیث بحث کوي. لکه: ځمکه د کومې ستوري شاوخوا راڅرخي؟ څو سپږمیانې لري؟ له لمره څومره واټن لري؟ او داسې نور....

**یادونه**:

دلته د جغرافیې لومړني درې ډولونه څېړو ، د څلورم څېړنه مو په (نوي هیئت ) کې کړې ده.

# لومړی فصل

## طبعي جغرافیه

وړاندې موووېل: په طبعي جغرافیه کې د ځمکې خدایي جوړښت څېړل کیږي چې الله جل جلاله څه ډول پیدا کړې؟ څومره برخه یې وچه او څومره تر اوبو لاندې ده؟ چېرته یې غرونه ، او چېرته یې سیندونه دي؟ کومې سیمې یخې او کومې تودې دي؟. اوداسې نور.....

## د طبعي جغرافیې څو اصطلاحات :

د طبعي جغرافیې له پلوه د ځمکې مخ په څو ډوله وېشل شوې:

## لومړی وېش:

په لومړیو کې د ځمکې په دوه برخو وېشل شوی:

۱. بحر (سیند) ۲. بـر: (وچـه).

د ځمکې مخ که په سل برخو ووېشو نو نهه ویشت (۲۹) سلنه یې وچه او په یو اویا (۷۱) سلنه یې اوبه (سیند) غوړېدلې دي.

## د ځمکې مخ:

مساحت: د ځمکې ټول مخ یو سل اوه میلونه (۱۹۷۰۰۰۰۰۰) مربع میله یا (**۵۱۰۰۷۲۰۰۰**) مربع کیلومتره اټکل شوی.

**سيندونه**: (۷۱) سلنه يې اوبه، چې (۱۴۱۰۰۰۰۰۰)مربع ميله کيږي.

**وچـــه** : (۲۹) سلنه يې وچه ده، چې هغه بيا (**۵۲۰۰۰۰۰۰**)مربع ميله ، يا(**۱۴۸۹۳۹۰۶۳**) مربع کيلومتره ده.

له دې نه څرګنده شوه چې د ځمکې وچه برخه تر ځلورمې زياته، خو په عام ډول له وچې برخې په ځلورمه تعبير کيږي.

# د اوبو ویش:

اوبه شپږ برخوته وېشل شوې دي:

۱. المحيطات: (ستر سيندونه). چې د ځمکې ډېره برخه يې لاندې کړې ده.

۲. بحار (واړه سيدنونه) . چې له يوې سيمې بلې ته بهيږي.

۳. بحيرې (سمندرګي) هغه ولاړې اوبه دي چې په وچه کې را ايسارې وي.

۴. خليجونه. د اوبو هغه برخې دي چې له سيند نه پيل او تر ډېره ځايه په وچه کې تللې وي.

۵. الانهار الصناعية(مصنوعي نهرونه يا اوبلارې). له يوه ځای څخه بل ته د اوبو رسولو او يا د دوه سيندوه سره نيبنلولو له پاره د انسانانو په لاس کندل شويو اوبلارو ته "مصنوعي نهرونه" وايي.

۶. الاعماق(کندې) د سيند په تل کې ژورې کندې دي.

# د وچې ځمکې وېش:

وچه ځمکه هم شپږ برخې لري:

١. قارې، براعظمونه(یا لویه وچې): د ځمکې هغه سترې برخې دي چې د سیند له سطحې پورته وي.

٢. جزیرې (ټاپوګان) د وچې ځمکې هغه وړې ټوټې دي چې له څلور خواوو اوبو کلابنده کړې وي.

٣. شبه جزیره (ټاپووزمه) د کومې وچې ځمکې یو اڅې دریو لوریو ته چې اوبه وي هغې ته (شبه جزیره) وایي.

۴. راس (سر): د وچې ځمکې هغه برخې ته وایي چې په سیند کې تر ډېره ځایه غځېدلې وي.

۵. صحرا(دښته): داسې وچه ځمکه ده چې تر اوسه په کې د انسانانو استوګنه کمه او یا نه وي.

٦. جبال(غرونه): د وچې هغه اسمان څکې څوکې دي چې د ځمکې د کرویت له دایرې وتلې وي.(١)

**یادونه**:

له پورته تعریفونو څخه څرګندیږي چې:

- محیطات(سترسیندونه) او براعظمونه (لویې وچې) سره مقابل دي.
- بحیرې(سمندرګي)، او جزیرې(ټاپوګان) په خپلو کې سره مقابل دي.
- خلیج(.....) او راس(سر) سره مقابل دي.
- جبال، او اعماق سره مقابل دي.

---

١-:الهيئة الوسطى بزيادة يسيرة.

## د وچې دويم وېش:

له بله پلوه ځمکه په شپږ برخو وېشله شوې:

۱- **واورې او کنګلونه** : د وچې (۱۰) سلنه بيا تر واوره لانده ده ..

وېل کيږي چې دا واورې که ويلې شي نو د سمندر سطحه به (۲۰۰) پوټه جګه شي او د سمندر له غاړې په سلګونو ميله لرې پراته ښارونه به تر اوبو لاندې شي.

۲-: **غرونه**: د وچې (۱۳) سلنه غرونه دي.

۳-: **غونډۍ**: نږدې شپږنيم سلنه (۲,۵)سلنه يې غونډۍ دي.

۴-: **صحراوې** : (۹,۵ ) سلنه دښتې دي.

۵-: **د استوګنې وړ**: يوازې (۱۲۰۰۰۰۰۰) مربع ميله يې سمدلاسه د استوګنې وړ ځمکه ده.

او همدومره (۱۲۰۰۰۰۰۰) مربع ميله يې په راتلونکې کې ددې وړ ده چې انسانان ګټه ترې واخلي.

نو وېلى شو چې له شپږپنځوس ميليونه مربع ميله ځمکې يوازې دوه دېرش ميليونه مربع ميله د استوګنې وړ ده.[1]

۶-: **هيوادونه** : ټوله نړۍ کې (۲۳۱ ) هيوادونه دي.

**لومړي روسيه**: د رقبې له پلوه د نړۍ تر ټولو ستر هيواد روسيه ده چې (۱۷۰۷۵۲۰۰) مربع کيلومتره مساحت لري.

**دو يمه کاناډا**: ده چې (۹۹۸۴۲۷۰ ) مربع کيلومتره مساحت لري.

---

۱-: الهيئة الوسطى (ص:۲۳۸)

**درېم امريكا متحده ايالات**: چې (٩٦٢٩٠٩١ ) مربع كيلو متره مساحت لري.

**څلورم چين**: (٩٥٩٦٩٦٠ ) مربع كيلو متره مساحت لري.

په دې ترتيب

**دولسم** : **سعودي** دى چې (٢٢۴٠٠٠٠ )مربع كيلو متره مساحت لري.

**څلوردېرشم**: پاكستان دى چې (٨٨٠٢۵۴ )مربع كيلو متره مساحت لري.

**يوڅلوېښتم**: افغانستا چې (۶۴٧۶۵٧ ) مربع كيلو متره مساحت لري.

**دوه سوه يو دېرشم** : د رقبې له پلوه د نړۍ تر ټولو وړوكى هيواد((واتكان ) ) دى چې تر نيم مربع كلومتر هم كمه ( ٠،٤٤ ) رقبه لري.

# دويم فصل

## د سيندونو تفصيل:

د ځمکې په مخ غوړېدلې اوبه په عمومي توګه پنځه سترو سندونو يا اقيانوسونو ته وېشل شوې دي:

١-: المحيط الهادئ.٢-: المحيط الأطلنطي.٣-:المحيط الهندي.٤-: البحر المنجمد الشمالي.٥-: البحر المنجمد الجنوبي.

المحيط الهادئ

په عام ډول په عربي نقشو کې دې سيند ته ( المحيط الهادئ) (ارام سمندر) په ايراني هغو کې (اقيانوس کبير ) او په اردو نقشو کې (البحر الکاهل) وايي.

**موقعيت**: له شمالي قطب نه تر جنوبي قطب پورې پروت دي، ختيځ ته يې دواړې امرېکاوې. او لوېديځ ته يې آسيا او استراليا پرتې دي.

**رقبه** :اته شپېته ( ٦٨ ) ميليونه مربع ميله مساحت لري. چې تر بحر اقيانوس نږدې دوه ، او تر بحر هند دوه نيم ځله غټ دی.

**ژوروالی**: د دې سيند په تل کې له ګوام ټاپو سره نږدې (مارينيا ترينچ) نومې کنده ده تر ټولو ژوره کنده چې يولس زره درې د برش (١١٠٣٣) متره ، (يا درې د برش متره بالا يوولس کيلو متره ) ژور والی لري . او همدا په سيندونو کې تر ټولو ژوره کنده هم ده .

## المحيط الاطلنطي( الاطلسي )

دې سيند ته بيا په عربي كتابو او نقشو كې ( المحيط الاطلنطي ( الاطلسي ) په ايراني هغو كې (اقيانوس اطلسي ) او په اردو نقشو كې (بحر اقيانوس ) وايي .

او همدا راز دغه سيند ته په اسلامي تاريخونو كې (بحر ظلمات ) هم ويل شوي.

**موقعيت**: له شمالي منجمد بحر څخه تر جنوبي منجمد بحر پورې غځېدلی. ختيځ ته يې دوې لويې وچې افريقا او اروپا پرتې دي، او په لوېديځ كې يې هم دوې لويې وچې شمالي امريكا، او جنوبي امريكا موقعيت لري.

د امريكا تر موندنې وړاندې داسې گومان كېدو چې د افريقا او اروپا مغربي ساحل دوچې ځمكې وروستۍ څنډه نور ورآخوا وچه ځمكه نشته ، نو ځكه دې بحر اقيانوس ته(بحر ظلمات: دتورو تيارو سيند ) ويل كېدل.

او همدا تر ټولو ستر سيند گڼل كېدو. او همدا راز دې سيند ته په عربي كې "البحر الاخضر" هم ويل شوي، ځكه چې د ستر والي له امله كتونكو ته شين ښكاري.

**پراخوالی**: بحر اقيانوس پنځه د ېرش ميلونه مربع مېله پراخوالی لري.

**ژوروالي**: تر ټولو ژوره كنده يې اته زره شپږ سوه پنځه متره ده.

## المحيط الهندي

دې سيند ته په عربي كتابو او نقشو كې ( المحيط الهندي ) په ايراني هغو كې (اقيانوس هند ) او په اردو نقشو كې (بحر هند ) وايي .

**موقعيت**: د اسيا ، افريقا ، او استراليا ترمنځ پروت دی، د ختيځ لورته له بحر الكاهل، او په لوېديځ كې له بحر اقيانوس سره هم لگېدلی دي. او همدا راز جنوب لورته له جنوبي منجد بحر سره هم پوله لري.

**پراخوالی**: نهه ویشت میلیونه مربع میله پراخوالی لري.

**ژوروالی**: تر ټولو ژوره کنده یې اووه زره دوه سوه اته پنځوس متره ژوروالی لري.

## البحر المنجمد الشمالي

**موقعیت**: په شمالي قطب کې پروت دی، جنوب ته یې د آسیا برخه روسیه ، د اروپا برخه (...)، د ګرین لینډ او د هغه یوې بلې خوا د اقیانوس غځېدلې خوکې، او بیا شمالي امریکا ، او همدا راز امریکا د الاسکا ایالت او روسیې تر منځ د الکاهل غځېدلې خوکه یا (دره بېرنګ ) لګېدلې ده.

**پراخوالی**: پنځه میلیونه مربع میله پراخوالی لري.

**ژوروالی**: تر ټولو ژوره کنده یې پنځه زره ، څلور سوه پنځوس متره ژوروالی لري.

په عمومي توګه دا سیند واوره او کنګل وي نو ځکه د ډېرې استفادې وړ نه دی.

## البحر المنجمد الجنوبي

**موقعیت**: د جنوبي قطب ، انترکتیکا د لویې وچې شاوخوا پروت دی، له استرالیا، بحر هند، اقیانوس، او بحر الکاهل سره لګېدلې دی ، او د مساحت له پلوه تر شمالي منجمد پراخ دی، خو په عمومي توګه دا سیند هم واوره او کنګل وي نو ځکه د استفادې وړ نه دی.

**پراخوالی**: څه له پاسه پنځه میلیونه مربع میله پراخوالی لري.

**ژوروالی**: تر ټولو ژوره کنده یې اوه زره ، دوه سوه پنځه دېرش متره ژوروالی لري.

# دريم فصل

## قارې (لويې وچې)

| شمېره | نوم | دهيوادونو شمېر | مساحت $km^2$ | د وګړو شمېر[1] |
|---|---|---|---|---|
| ۰ | ټوله نړۍ | ۲۳۱ | ۱۴۹،۰۰۰،۰۰۰ | ۶،۸۰۰،۶۸۳،۸۵۰ |
| ۱ | آسيا. | ۴۷ | ۴۴،۴۱۱،۰۰۰ | ۴،۱۱۰،۰۸۰،۰۰۰ |
| ۲ | افريقا | ۵۴ | ۳۰،۳۱۹،۰۰۰ | ۱،۰۰۴،۱۳۹،۱۰۰ |
| ۳ | جنوبي امريکا | ۱۲ | ۲۴،۲۵۷،۰۰۰ | ۳۸۵،۸۱۳،۵۰۰ |
| ۴ | شمالي امريکا | ۲۷ | ۱۷،۸۱۰،۰۰۰ | ۹۱۴،۲۴۸،۷۰۰ |
| ۵ | انتارکانټيکا | ۰ | ۱۳،۶۰۰،۰۰۰ | ۰ |
| ۶ | اروپا | ۴۷ | ۱۰،۵۳۱،۰۰۰ | ۷۳۷،۰۶۲،۴۰۰ |
| ۷ | استراليا(اقيانوسية | ۱۹ | ۸،۵۱۰،۰۰۰ | ۳۵،۱۱۴،۶۵۰ |
| ۸ | بېلابېلې جزيرې | ۲۵ | | |

۱- په جدول کې د مساحت کچه له "مواقع دول العالم"نومي ساپټوير څخه، او د وګړو شمير بيا له ايراني اطلس (ګيتا شناسي) څخه اخيستل شوی چې د په (۲۰۰۹) کې د تر سره شوې سرشمېرنې پايلې يې را اخيستي دي. نن سبا ويل کيږي چې د نړۍ د وګړو شمېر تر اوه (۷) مليارده اووښتي دی. ابوسعيد راشد.

# قارې (لويې وچې)

د ځمکې تر اوبو ښکاره برخه اووه قارو يا لويو وچو ته وېشل شوې:

۱-آسيا. ۲- افريقا. ۳- جنوبي امريکا. ۴- شمالي امريکا. ۵- انټارکټيکا. ۶- اروپا. ۷- استراليا.

۱-: **آسيا**: **Asia**

آسيا: د يوناني ژبې ويوکې دی چې د شرق (ختيځ) په معنا کارول کيږي، څرګه چې دا وچه د افريقا او اروپا په ختيځ کې پرته ده نو ځکه ورته آسيا ويل شوي.

آسيا د ځمکې په مخ تر ټولو ستره لويه وچه ده چې د ځمکې د ټولې رقبې په سلو کې (۸,۶٪) ، او د ټولې وچې (۲۹,۴٪) برخه جوړوي.

او له بله پلوه د ځمکې په مخ د غره تر ټولو ډنګه څوکه (ايورسټ) او تر ټولو ټيټه نکته (بحر ميت) په همدې لويه وچه کې دي.

د رقبې له پلوه ترټولو ستر هيواد روسيه ،او د وګړو د شمېر له پلوه ګڼ نفوسه هيواد چين په آسيا کې راځي.

او همدا راز په اسلامي رواياتو او تاريخ کې مشهور شپږ سيندونه ( دجله ، فرات، سيحون، جيحون، سيحان، جيحان) ټول په دې وچه کې بهيږي. او د ځمکې په مخ تر ټولو ستره بحيره (بحيره قزوين) هم په اسياموقعيت لري.

تر ټولو خوندوره لا دا چې د انساني ژوند پيل په همدې وچه کې شوی، آدم عليه السلام همدلته ځمکې ته راکوز شوی، ډېری انبياء عليهم السلام همدلته تېرشوي، الهي دينونه ، او کتابونه همدلته نازل شوي، او د الهي دينونو دواړه سپېڅلې قبلې کعبه، او بيت المقدس په همدې وچه کې موقعيت لري.

۱. **مساحت** : څلور څلوېښت میلونه څلور لکه یوولس زره ( ۴۴،۴۱۱،۰۰۰ )مربع کیلو متره مساحت لري.

۲. **د وګړو شمېر**: په آسیا کې څه له پاسه څلور ملیارده(٤،١٥٠،٠٠٠،٠٠٠ ) وګړي ژوند کوي. چې د ټولې نړۍ د نفوسو شپېته (۶۰٪)سلنه جوړوي.

۳. **د هوادونو شمېر** : په اسیا کې ( ۴۷ ) نږدې اووه څلوېښت هیوادونه پراته دي.

۴. **څلور خواوې**:

- شمال ته یې " شمالي منجمد " بحر.
- ختیځ ته یې "بحر الکاهل "
- جنوب ته یې "بحر الهند "
- لوېدیځ ته یې: شمالي افریقا ، مدیترانه سمندرګی. او اروپا. پراته دي.

**یادونه**:

د افریقا او آسیا ترمنځ: (بحر احمر ) د بېلوونکې کرښې په توګه منل شوې.

او د اروپا او آسیا تر منځ بیا ؛ دردنیل، بحر مرمره، دره پاسفورس، بحر اسود ، د ققفاز غر (کوه قاف ) او اورال غرونه ، د بېلېدونکې کرښې په توګه ټاکل شوي دي.

## ۲-. **افریقا**

افریقا : په اصل کې د یوناني ژبې له دوه تورو (افري: څمڅه ، یا قبیله ) او (قا: ځمکه ، یا ښار ) څخه جوړ لفظ دی چې "د غارونو وطن "معنا ورکوي، ځکه پخوا به یې اوسېدونکي زیاتره په څمتو او غارونو کې اوسېدل. او یا د افري قبېلې وطن.

او ځينې بيا وايي: د دې سيمې لومړنی عرب واکمن يې "افريقی بن قيس" و. نو ځکه يې "افريقا" بولي.

**پراخوالي**:

د رقبې په لحاظ افريقا دويمه لويه وچه ده چې نږدې څلور پنځوس هيوادونه لري، په نړۍ تر ټولو ستره دښته (صحرا اعظم) د همدې افريقا په زړه کې موقعيت لري، تر ټولو اوږ سيند (نيل) هم په افريقا کې دی.

زيات ځنګلونه او غريبيزې سيمې لري، او د نړۍ نايابه ژوي په همدې وچه کې ژوند کوي.

تر ۱۹۲۰ز پورې د افريقا ډېری هيوادونه د اروپايي استعمارګرو در ولکې لاندې وو، له دې وروسته يې د نسبي ازادي لړۍ پيل شوه او د نولس سوه اتيا په لسيزه کې نږدې ټولو په ظاهري ډول خپلواکي تر لاسه کړه، خو په معدنياتو او تر ځمکه لاندې شتمنيو يې لا اوس هم دغربي ښکېلاک منګولې ښخې دي.

**د افريقا برخې**:

افريقا په دريو برخو وېشله شوې:

لومړی: شمالي افريقا: چې ډېری وګړي مسلمانان دي.

دويم: جنوبي افريقا:

دريم: منځنۍ افريقا: د دې دواړو ډېری وګړي نامسلمانه دي.

۱. **مساحت**: **څه له پاسه دېرش مليونه (۵۳۲، ۲۲۱، ۳۰**کم۲) مربع کيلومتره مساحت لري.

۲. **د وګړو شمېر**: څه له پاسه يو مليار انسان او سيږي (۰۰۰، **۲۳۴**، ۰۲۲، ۱).

۳. **د هیوادونو شمېر**: ۵۴

۴. **څلورخواوې**:

- شمال ته یې مدیترانه (بحر روم).
- ختیځ ته یې بحر هند.
- لوېدیځ ته یې بحر اقیانوس.

**یادونه**:

څرنګه چې افریقا د مثلث شکل لري نو ځکه یې درې خواوې بیان شوې او جنوب ته یې د بحر هند او بحر اقیانوس د پیستون (متلقی) نقطه ده.

۳-: **جنوبي امریکا** .۴- **شمالي امریکا**

**امریکا**: د انګلیسي ژبې توری دی چې د (امریګوواسپیوشي) تن له نوم څخه اخیستل شوی، دا له کولمبس وروسته دویم سړی و چې د امریکا لوېې وچې ته راغلی او بیا یې په اړه خپله سفرنامه لیکلې او د اروپا خلک یې د دې وچې اهمیت څخه خبر کړي.

**د امریکا موندنه**: په دوولسمه هجري پېړۍ (۱۷ز) کې د اندلس اسلامي خلافت له رنګېدا وروسته اسپانوي او پرتګالي ماڼوګان د هند په سفر ووتل له اړدو سفرونو ورسته یوې وچې ته ورسېدل ، د هغوی دا خیال و چې د هند کومې سیمې ته راغلي دي، خو هندیان تور او دا سره خلک دي ، نوځکه یې دې خلکو ته (ریډ اینډین) نوم ورکړ، خو وروسته څرګنده شوه چې دا هند نه بلکې بله لویه وچه ده او په دې ډول د امریکا لوېې وچې و موندل شوې، څرنګه چې اروپایان لومړی دې وچې ته رسېدلي له همدې امله تر ډېرې زمانې د هغوي تر استعمار لاندې پاته شوې، د جنوبي امریکا نږدې ټول وګړي په اسپانوي ژبه خبرې کوي.

او ځینې پوهان بیا وایي: تر اروپایانو وړاندې د سایبیریا د دښتې له لارې مسلمانان دې وچې ته رسېدلي وو ، خو هغوی ته دا څرګنده نه وه چې د ځمکې په هغه بل مخ را تاو شوي او کومه بله وچه یې موندلې ، او له بله پلوه په همدې وخت کې په اندلس کې اسلامي خلاف رنګ شوی و ، د اوبو له لارې اروپایانو په اساني سره کولی شو چې دې وچې ته ځان ورسوي، او د وچې لار دومره اوږده او له کړاوونو ډکه وه چې له هغې لارې دلته واکمني کول ناشوني و نو ځکه په دې سیمه کې د اسلام او مسلمانانو اغېز څرګند نه شو.

## جنوبي امریکا

د رقبې له پلوه جنوبي امریکا په دریم نمبر ده.

1. **مساحت**: یې ځلېرویشت میلیونه دوه لکه اوه پنځوس زره (**۲۴،۲۵۷**،۰۰۰) مربع کیلو متره لري دی.
2. **د وګړو شمېر**: تقریبا درې سوه شپږ اتیا میلیونه (**۳۸۵،۸۱۳**،**۵۰۰**) وګړي په کې ژوند کوي.
3. **د هیوادونو شمېر**: ۱۲
4. **څلورخواوې**:

- شمال: بحیره کریبین، او شمالي امریکا.
- ختیځ: بحر اقیانوس.
- لوېدیځ: بحر الکاهل.

جنوبي امریکا هم د افریقا په څېر د مثلث شکل لري نو ځکه یې درې خواوې بیان شوې او جنوب ته یې د بحر اقیانوس او بحر الکاهل د پیستون (متلقی) نقطه ده.

## شمالي امریکا:

د رقبې او مساحت له پلوه شمالي امریکا په څلورم نمبر ده، تر ټولو ستر هیواد یې کاناډا او بیا د نړۍ سرکش او طاغوتي قوت متحده ایالات.

۵. **مساحت**: لږ کم اتلس میلیونه (۱۷،۸۱۰،۰۰۰) مربع کیلومتره مساحت لري.

۶. **د وګړو شمېر**: څه له پاسه نه سوه څورلس میلیونه(۹۱۴،۲۴۸،۷۰۰) وګړي لري.

۷. **د هیوادونو شمېر**: ۲۷

۸. **څلورخواوې**:

- شمال: بحر منجمد شمالي.
- ختیځ: بحر اقیانوس.
- جنوب: بحیره کېریبین، او جنوبي امریکا.
- لوېدیځ: البحر کاهل.

**یادونه**: په شمالي امریکا کې اصلا درې هوادونه (کاناډا، د امریکا متحده ایالات، او مکسیکو) پراته دي. او د دوه سترو امریکایي وچو ترمنځ نرۍ پټۍ ته منځنۍ امریکا وایي، خو څرنګه چې دا سیمه له خط استواء څخه شمال ته پرته ده نو ځکه په دې سیمه کې پراته هیوادونه په شمالي امریکا کې شمېرل کیږي.

**۵-:انټارکاټیکا**

انټارکاټیکا: یوناني ویوکی دی چې له دوه لفظونو څخه جوړ دی یو یې (انټي:.....) چې د مقابل په معنا، او بل یې (ارکاټیکا، یا ارکټیک) د شمالي قطب په معنا دی) وړاندې خلکو داسې ګومان و چې یوا ځې شمالي قطب ته نږدې ځمکه شته او انسانان پرې خبر دي، خو وروسته بیا څرګنده شوه چې په جنوبي قطب کې تر شمالي قطب زیاته ځمکه ده، بلکې شمالي قطب خپله تر اوبو لاندې دي خو دلته یوه ستره قاره یا پنځمه لویه وچه پرته ده که څه هم مخ یې په واورې پوښلی دی.

نو کله چې په جنوبي قطب کې د ځمکې څرک ولګېدو هغه ته یې د (د شمال مقابل نوم ورکړی).

**مساحت**: دیارلس نیم میلیونه (۱۳،۲۰۰،۰۰۰) مربع کیلومتره مساحت لري.

**د وګړو شمېر**: صفر

**د هیوادونو شمېر**: صفر.

**موقعیت** : جنوبي قطب.

یادونه : د ځمکې په مخ تر ټولو یخه سیمه د همدې وچې (ونسن ماسف) نومې څوکه ده چې د تودوخې درجه یې له منفي اتیا تر منفي نوي درجو پورې وي.(۱)

## ۶-اروپــــا:

اروپا چې د رقبې له پلوه په شپږم نمبر کې ده او د نفوسو د شمېر له پلوه دریمه قاره ګڼله کیږي، د ډېرې جغرافیه پوهان یې بېله وچه نه بلکې د اسیا یوه برخه ګڼي، خو مشهوره داده چې دا بېله قاره ۲ده، او په تاریخي لحاظ د ډېر قدامت لري، او څو ، څو ځله یې او سېدونکو د نړۍ په زیاتره برخه واکمني کړې ده.

رومي سلطنت همدلته تېر شوی، یونان د همدې سیمې د یوې ټوټې نوم دی، پخواني فلاسفه چې په فلسفه، او ریاضي کې یې تر اوسه خلک شاګردان دي د همدې سیمې اوسېدونکي ول. د برطانویانو د امپراطورۍ له همدې ځایه پیل شوې او نږدې په ټوله نړۍ یې واکمني کوله.

1. **مساحت**: اروپا لس میلیونه پنځه لکه یو دېرش زره (۱۰،۵۳۱،۰۰۰) مربع کیلومتره مساحت لري.
2. **د وګړو شمېر**: څه له پاسه اوه سوه اوه دېرش میلیونه (۷۳۷،۰۲۲،۴۰۰) نفوس لري.
3. **د هیوادونو شمېر**: ۴۷
4. **څلورخواوې**:

- شمال ته یې شمالي منجمد بحر.

---

۱-: کتاب جغرافیه ابو لبابه (٤٣)

- ختیځ ته یې آسیا.
- جنوب: ته مدیترانه او بحیره اسود.
- لوېدیځ ته یې بحر اقیانوس پروت دی.

## ۷- :**استرالیا**(**اقیانوسیة**)

استرالیا: لاطیني ژبې ویوکی دی چې د جنوب (سوېل) په معنا دی. دا وچه هم د ځمکې په سوېلې قطب کې پرته ده نو ځکه دا نوم ورکړل شوی. او په ځینې عربي کتابونو کې بیا (اقیانوسیه)ورته ووېل شوي، ځمکه په ایراني جغرافیه کې ټولو لویو سیندونو ته اقیانوس وېل کېدل او دا وچه د اقیانوس هند په منځ کې پرته وه نو ځکه ورته اقیانوسیه وېل شوي.

د رقبې له پلوه تر ټولو وړه قاره ده ، دا وچه هم په تېرو زمانو کې خلکو ته نه وه معلومه ، په اولس سوه اته شپېته (۱۷۶۸) زېږدیز کې یوه برطانوي ماڼو ((جیمزکک)) موندلې ، او تر ډېره وخته د هغه په نوم یادېدله، د اروپایانو له راتلو وروسته ددې سیمې اصلي اوسېدونکي همداسې نیست نابود شول لکه د امریکا اصلي اوسېدونکي (ریډ انډین) چې ورک شول.

**مساحت**: **اته میلیونه پنځه لکه لس زره** (۸،**۵۱۰**،۰۰۰ )مربع کیلومتره مساحت لري.

**د وګړو شمېر**: څه له پاسه پنځه دېرش میلیونه (**۳۵**،۱۱۴،**۲۵۰** ) انسانان په کې ژوند کوي.

**د هیوادونو شمېر**: ۱۹

**څلورخواوې**:

شمال ته: بحرهند . ختیځ ته: بحر کاهل. جنوب ته: بحر کاهل. لوېدیځ ته: بحر هند.

# څلورم فصل

## جزيرې (ټاپوګان)

جزيرې دوه ډوله دي:

**لومړی**: د وچې کومه برخه چې له څلور واړه لوريو په اوبو کې ايساره هغې ته جزيره يا (ټاپو) وايي.

**دويم**: د وچې هغه برخه چې درې لوري يې اوبه او يوه لوري ته له وچې سره پوله لري، دې ته (شبه جزيره يا ټاپووزمه) وايي. لکه: عربي ټاپووزمه، د الاسکا ټاپووزمه.........

**د ټاپوګانو تفصيل**:

هسې خو د وچې ډېرې ټوټې د سيند په منځ کې را ښکاره شوې دي، خو موږ يې يوازې د هغه ټاپوګانو يادونه کوو چې کوم تاريخي، يا سراتيژيک حيثيت ولري.

**۱- جزائر خالدات. ۲- هوايي.۳- ګوام. ۴-کيريبين. (غرب الهند). ۵- کيوبا.**

**۶- قبرص. ۷- مالټا. ۸- جزائر انډيمان. ۹- ډيګو ګارشيا: ۱۰- جزائر برمودا.**

**لومړی**: **جزائر خالدات**:

مراکش(المغرب) هيواد ته مخامخ لوېديځ لور ته المحيط الاطلنطي يا (بحر ظلمات) په منځ کې د جزيرو يوې ټولګې ته (جزائر خالدات) وايي، مشهوره جزيره يې (کينري، تنريفي، لانزروټې، او لاپالما) دي، ور سره نورې هم په سلګونو وړې وړې جزېرې شته، پلازمينه يې په (تنريفي) ټاپو کې(سانټا کروز) ښار دی، خو د رقبې له پلوه تر ټولو ستره جزيره (کينري) ده چې (**۱۵۳۲**) مربع کيلو

متره مساحت لري، دې جزيرې يوه ځانګړتيا دا ده چې کروي شکل لري، ځينې سيمې يې د سمندر له سطحې دوه زره (۲۰۰۰) متره لوړوالی لري چې په جزېرو کې يې ساری نه ليدل کيږي.

**ارزښت:**

دا جزېرې ډېر تاريخي ارزښت لري، او ويل کيږي چې کولمبکس نومی انګرېز چې کله د هند په سفر وتلی او بيا د امريکا لوېږ وچې ته ورسېد، له اروپا څخه د روانېدو په مهال يې روستی دمه په همدې جزېرو کې کړې تر څو له ځان سره خوراکي توکي او نور د اړتيا وړ شيان واخلي.

او تر ټولو په زړه پوري لا دا چې د امريکا تر موندنه وړاندې همدا جزيرې د ځمکې لوېديځه څنډه ګڼل کېدلې او د ډېری اسلامي جغرافيه پوهانو (الادريسي، البروني، الخوارزمي او نورو) په نقشو کې د طولو البلد پيل له همدې ځايه شمېرل شوی، او د همدې جزيرو طول صفر درجه (۰) درجه ګڼل کېدو، همدا لامل دی چې موږ که د الادريسي او البروني نقشې وګورو نو د ټولو ملکونو د طول درجې به له اوسنيو هغو سره توپير لري، دا ځکه چې هغوی په خپلو نقشو کې همدا (خالدات) نومې جزيرې د طول پيل ګڼلې وې.

خو کله چې دنړۍ په لويه برخه د انګريزانو واکمني خپره شوه او هغوی د خپلې پټې دښمنې له امله نه غوښتل چې هيڅ هم د مسلمانانو په اېښودل شويو بنسټونو پاته شي، نو ځکه يې په (۱۸۸۴ ز) کې د خپلې واکمنۍ د پلازمينې (لندن) يو وړوکی کلی (ګرينچ) چې له لندن څخه (۹) ميله جنوب ختيځ لورته د (ټېمز) نومي سند پر غاړه پروت دی او هلته هغوی يوه لويه رصدګاه لرله، همدا کلی يې د ټولې نړۍ له پاره د طول البلد د پيل په توګه وټاکو، چې په پايله کې د ټولو ملکونو وختونه

هم د همدې ځای تر وخت پورې وتړل شول، او دا دهغوی د امپراتورۍ یو یادابښت دی چې تر اوسه پورې پاتې دی.

**دویم : هوایي:**

هوایي د څو جزیرو ټولګه ، د امریکا پنځوستم ایالت دی، د المحیط الهادئ(ارام سمندر ) په منځ کې موقعیت لري، د دې سیمې اصلي اوسېدونکي(پولینیشیائیان ) هم لکه (ریډ انډین) غوندي له وره کېدا سره مخ دي وېل کیږي چې اوس یوائې دوه سلنه همدا خلک او پاته اته نوي سلنه یې (غاصب ) مېلمانه دي چې د واک په ګدۍ ناست دي.

**تاریخي ارزښت:**

دا هغه ټاپو دی چې په دویمه نړیواله جګړه کې جاپانیانو د مغرب له لوري پرې حمله وکړه او اتحادي ځواکونه یې وځپل او په پایله کې امریکا په جاپان دوه اټمي بمونه وغورځول، او جاپانیان مات شول.

خبرونکي وایي: هغه مهال امریکا دربم اټمي بم نه درلود خو دا د جاپاني استخباراتو نیمګړتیا وه چې په دې خبر نه ول، او مشرانو ته یې دا ډاډ ورنه کړای شو ، سره له دې چې په ځمکنۍ جګړه کې بیا هم جاپانیان ښه غښتلي وو ، خو د نورو اټمي بمونو له وېرې یې ماتې ومنله او د سلګونو کلونو له پاره یې د غلامي پړي ته غاړه ټیټه کړه.

د دې سیمې د اقتصاد او معیشت دربمه برخه په سیاحت ولاړه ده.

**دریم ګوام**:

ګوام نومې جزیره  د المحیط الهادئ یا ارام سمندر په لوېدیځه برخه کې پرته ده ، چې (**۵۴۱** ) مربع کلومتره مساحت لري، لومړی انساني ډله د (فرډیناند مګیلین:Ferdinand Magellan) په مشري پرتګالیان وو چې (**۱۵۲۱** ز ) کې دې جزیرې ته رسېدلي، او څرنګه چې هغه مهال پرتګال د اسپانیا مستعمره وه نو ځکه تر ډېرې مودې دا سیمه د اسپانیا په ولکه کې وه، بیا په (**۱۸۹۸**ز ) کې د امریکا او اسپانیا د جګړې په مهال د امریکا ګوتو ته ولوېده، په (**۲۰۰۹**ز ) کې د سرشمېرنې له مخې یې د وګړو شمېر (۱۷۸۰۰۰ ) ته رسیږي.

**ارزښت**:

جغرافیایي ارزښت یې دادی چې په سمندر کې تر ټولو ژوره کنده یا ټیټه نکته (ماریانه ټرینچ) د همدې جزیرې خواته دي.

او بله دا چې په دې جزیره کې امریکا یوه ستره پوځي اډه لري، چې څو ورځې وړاندې (۲۰۱۷ز ) د اګست په ( ۹ ) شمالي کوریا ګواښ کړی و چې ددې ټاپو اوولس کلومترۍ ته به توغندي وتوغوي.

**څلورم**: **د کیریبین**: **جزیرې**:

د محیط اطلسي (یا بحر ظلمات) هغه کونج (خلیج) چې د دوه امریکا ګانو په منځ ور ننوتلی دې کونج ته (خلیج کریبین، یا بحیره کیریبین) وایي.

دا ځکه چې د اروپایانو تر را تللو وړاندې په دې سیمه کې د (کیرب) نومي قبیلې خلک اوسېدل، خو بشر دوسته مېلمانه چې هرې سیمې ته تللي د هغې سیمې اصلي اوسېدونکي کي یې له منځه وړي، او دلته یې هم همدا کانه کړې ده.

همدې جزیرو ته په عربي (غرب الهند )په (ویسټ اینډیز) او په اسپانوي (انټیلاس: موندل شوې) سیمه وایي، دې سیمه کې په زرګونو ټاپوګان پراته دي چې ځنیې یې خپلواک او ځینې یې

د سترو قدرتونو تر واک لاندې دي، نن سبا "ويسټ اينډيز" په دې سيمه کې د يوې برخې نوم دی چې مستقل هيواد ګڼل کيږي.

**تاريخي ارزښت:**

ويل کيږي کولمبکس چې کله د هندوستان په سفر له جزائر خالدات څخه روان شو، لاره يې غلطه کړه او له اوږدو مزلونو وروسته د محيط اطلسي په لويديځه څنډه کې همدې ټاپوګانو ته ورسيد او بيا له دې ځايه د امريکا وچې ته لاره پيدا کړه، نو دهغه خيال و چې هند ته راغلی خو هند له اروپا شرق او دا ځای عرب ته پروت دی نو ځکه يې ورته (غرب الهند: يا ويسټ ايندېز) نوم ورکړ، او هغه تر مرګه په دې خبره ټينګار کاوه چې دا د هيند کومه برخه ده.

**پنځم: قبرص.**

قبرص، قبرس د مديترانې په ختيځه برخه کې د ترکيې جنوب ته پرته جزيره يا ټاپو دی چې نن سبا د خپلواک هيواد په توګه خپلې چارې په مخ بيايي، شپږ مهم ښارونه يا ايالتونه لري "نکوسيا" نومی ښار يې پلازمېنه ده.

د "قبرس" توری د (قابرس) نومي بت له نوم څخه اخيستل شوی چې دلته به يې عبادت کيده.

ويل کيږي چې محيط يې د يوې ورځې مزل، او تر وچې يې لاره هم د يوې ورځې مزل دی، او تر مصره د پنځه ورځو لاره ده.

**تاريخي ارزښت:**

د تاريخ په اوږدو کې د قبرص واک ډېر ځله لاس په لاس شوی، په (**۳۹۵**ز) کې چې رومي سلطنت په دوه برخو(شرقي روم، او غربي روم) ووېشل شو، قبرص د شرقي روم برخه شو، بيا په

پېړيو ، پېړيو د هغوی په واک کې و ، د عثمان رضي الله عنه د خلافت په پېر کې کله چې په لومړي ځل د معاويه رضی الله په غوښتنه "الاسطول الاسلامي "(بحري قوه چې د بېړۍ جنګي بېړۍ او وسلې په کې وې) جوړ شو ، د اسطول له جوړېدلو څلور کاله وروسته په (۲۸هـ -۲۴۸ز) کې د معاويه رضی الله عنه په مشري اسلامي لښکر قبرص له روميانو فتح کړ، او د رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه پيش ګويي چې د ام حرام رضي الله عنها په روايت ياده شوې د هغې مصداق شو ، او ام حرام رضي الله عنها په همدې ټاپو کې خښه ده.(١)

له فتحې وروسته قبرصيانو د سولې غوښتنه وکړه معاويه رضي الله عنه په څو شرطونو ورسره ومنله:

١- قبرصيان به د کال اوه زره ديناره جزيه ورکوي.

٢- مسلمانان به د روميانو له هر ډول پوځي کړنو خبروي.

٣- د مسلمانانو او روميانو د جګړې په صورت کې به قبرصيان خپل بې پرې والی ساتي.

٣- د اړتيا په مهال به مسلمانانو ته له دې لارې د تېرېدلو اجازه ورکوي.

خو هغوی بيا په دې شرطونو وفا ونه کړه نو ځکه معاويه رضی الله عنه اړ شو چې په (۳۳هـ -۲۵۳ز) کې بيا حمله پرې وکړي، له فتحې وروسته يې د اسلامي خلافت برخه کړه، او دوولس زره مسلمانان يې ورته راکډه کړل جوماتونه او کورونه يې ورته جوړ کړل.

---

١- (٢٧٩٩) - ...عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ خَالَتِهِ أُمِّ حَرَامٍ بِنْتِ مِلْحَانَ، قَالَتْ: نَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا قَرِيبًا مِنِّي، ثُمَّ اسْتَيْقَظَ يَتَبَسَّمُ، فَقُلْتُ: مَا أَضْحَكَكَ؟ قَالَ: «أُنَاسٌ مِنْ أُمَّتِي عُرِضُوا عَلَيَّ يَرْكَبُونَ هَذَا البَحْرَ الأَخْضَرَ كَالْمُلُوكِ عَلَى الأَسِرَّةِ» قَالَتْ: فَادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ فَدَعَا لَهَا، ثُمَّ نَامَ الثَّانِيَةَ، فَفَعَلَ مِثْلَهَا، فَقَالَتْ مِثْلَ قَوْلِهَا، فَأَجَابَهَا مِثْلَهَا فَقَالَتْ: ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ، فَقَالَ: «أَنْتِ مِنَ الأَوَّلِينَ»، فَخَرَجَتْ مَعَ زَوْجِهَا عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ غَازِيًا أَوَّلَ مَا رَكِبَ المُسْلِمُونَ البَحْرَ مَعَ مُعَاوِيَةَ، فَلَمَّا انْصَرَفُوا مِنْ غَزْوِهِمْ قَافِلِينَ، فَنَزَلُوا الشَّأْمَ، فَقُرِّبَتْ إِلَيْهَا دَابَّةٌ لِتَرْكَبَهَا، فَصَرَعَتْهَا، فَمَاتَتْ. صحيح البخاري (٤/ ١٨)

قال ابن الاثير: وكانت تلك الغزوة غزوة قبرس فدفنت فيها. أسد الغابة ط العلمية (٧/ ٣٠٤)

د مسلمانانو له اته نیم سوه کاله واکمني وروسته په (**۸۹۵**هـ-**۱۴۸۹**ز) کې د مسلمانانو له واکه ووت او د (وینس) اروپايي جمهوریت واک ته ولوېد، بیا په (**۹۷۹**هـ - **۱۵۷۱**ز) کې عثماني خلافه سلیم ثاني له لوري د قوماندان مصطفی په مشرۍ عثماني ځواکونو فتح کړ، په کال (**۱۳۳۳**هـ - **۱۹۱۴**ز) کې د لومړۍ نړیوالې جګړې په مهال د برطانویانو لاس ته ولوېد، په (**۱۳۸۰**هـ - **۱۹۲۰**ز) کې یې له برطانوي امپراتوري خپلواکي اعلان کړه. او په (**۲۰۰۴**ز) کې د اروپايي اتحادیې غړی هیواد شو.

**شپږم: جزائر انډیمان. (توري اوبه)**

"انډیمان" د نږدې دوه سوه وړو ټاپوګانو ټولګه ده چې د "برما" له اراکان(۱) ایالت جنوب ته د بنګال په خلیج کې موقعیت لري.

**تاریخي ارزښت:**

په (**۱۸۵۷**ز) کې د برطانوي استعمار په وړاندې د نواب خان بهادرخان، او حافظ رحمت خان له لوري د ازادۍ جهادي غورځنګ پیل شو، د علم صیغې مؤلف مفتي عنایت احمد رحمه الله یې له مخکښو غړو و، کله چې تحریک ناکام شو نو مفتي صیب او د هغه ګڼ شمیر ملګري د استعمار له لوري ونیول شول او (انډیمان) ټاپو ته یې یوړل، تر څو کاله بند وروسته په (**۱۸۷۷**ز) کې د علمي صغې ملا صیب له بنده راخوشی شو، په بند کې یې د ملګرو له پاره له یادو، علم صیغه، او نور بېشمېره کتابونه په بېلابېلو فنونو کې ولیکل.

---

۱- اراکان: په برما کې د مسلمانانو یواځنی ایالت دی چې په دې شپو وروځو کې (۲۰۱۷ز، سپتمبر ۱۰) د بودایي حکومت له لوري یواځې د مسلماني په جرم ورسره سخت ظلمونه کیږي، ماشومان، مېرمنې او بوډاګان یې ویشتل کیږي، کورنه ته یې بودایي جابر پوځ اوررونه اچوي، تر ټولو بده لا دا چې بنګلدیش ته د تیښتې په لاره کې یې ماینونه ورته ښخ کړي. فالی الله المشتکی. ابوسعید

وپل کیږي: چې د یوه انګریز واکمن په غوښتنه یې د تقویم البلدان ژباړه وکړه چې له امله یې مفتي صیب له بنده خوشی شو.(۱)

## اووم: جزیره مالټا.

"مالټا "د لیبیا شمال ته په مدیترانه سمندرګي کې موقعیت لري، له جغرافیایي پلوه د افریقا، او په سیاسي لحاظ د اروپا برخه ده، د رقبې له پلوه وړه جزیره ده چې یواځې (۲۴۲) مربع کلومتره مساحت لري، د سمندر له سطحې لوړوالی یې (۲۵۳) متره اټکل شوی. ډېری اوسیدونکي یې کاتولیک مسیحیان دي، موسم یې معتدل دی، د تودوخې درجه یې په عمومي ډول د (۱۲) او (۳۲) ترمنځ وي، نو ځکه د کال په ټولو فصلونو کې د سیاحت له پاره غوره ځای ګڼل کیږي.

## تاریخي ارزښت:

ددې جزیرې ارزښت په دې کې دی چې د وربښمین غورځنګ بنسټ ایښودونکي شیخ الهند مولانا محمود الحسن العثماني رحمه الله د ازادي غوښتني په جرم د برطانوي استعمار له لوري په دې ټاپو کې درې نیم کاله بند تېر کړی، او تفسیر عثماني چې موږ یې پښتو ژباړه په کابلي تفسیر پېژنو په همدې ټاپو کې د بند په مهال لیکلی.

## د وربښمین غورځنګ لنډه پېژنده

یو زرنهه سوه پنځلس (۱۹۱۵ز) کې د دیوبند ستر استاذ شیخ الهند محمود الحسن رحمه الله پریکړه وکړه چې نور باید انګریزان له هنده د توري په زور وشړي او یوستر اوښتون (انقلاب) راولي، دې موخه ته د رسېدولو په پار دوه کارونو ته اړتیا وه:

---

۱- طفر المحصلین ص (۱۱۳).

**لومړی**: د اوښتون له پاره باید په ازادو سیمو کې جوړ شي خوندي مرکزونه جوړ شي ، په همدې موخه یې څو پیاوړی شاګردان د سند اوبلوچستان له لارې افغانستان ته راولیږل، دوی کې یې د چارسدې مولانا سیف الرحمان، مولانا عبیدالله سندي او مولانا منصور انصاري یو په بل پسې کابل ته را واستول، دغه مهال افغانستان کې امیرحبیب الله خان واکمن و، د ملا عبدالرزاق اندړ په منځګړیتوب به له دوی سره ( نایب السلطنة) سردار نصرالله خان لیده کاته اومرسته کوله.

دویم: شیخ الهند غوښتل چې د عثماني خلافت له مشـــرانوسره وویني، مرسته او ملاتړ یې ترلاســه کړي، دې موخې ته د رسېدلو له پاره د حج په پلمه په کال (۱۹۱۵ز) د سپتمبر میاشت کې حجاز ته روان شـو ، پښـتون مـــلا مولاناعزیر ګل، مولانا حسـین احمد مدني او مولانا منصـور انصاري رحمهم الله یې دسفر ملګري وو، هلته یې دعثماني خلافت له مشرانو سره ولیدل له هغوی یې وغوښـــتل چې له هند څخه د انګریزانو په ابېـــتولو کې ورسره مرســـته وکړي، او د انګریزي اســـتعمار خلاف یې له عرب علماوو د جهاد فتوا هم ترلاســـه کړه، د دې فتوا عربي ترکي او اردو متن یې تیار کړ ، زیات شـمیر پاڼې یې په وربښـمن دسـمال د خپل نزدې شـاګرد مولانا منصـور انصاري په لاس ازادو سیمو او کابل ته واستولې .(۱)

انګریزان په دې غورځنګ خبر شول او د مکې له والي یې وغوښتل چې شیخ الهند او ملګري یې ونیسيـ، هغوی د اسـتعمار غوښـتنه ومنله، شیخ الهند یې له خپلو ملګرو سره په لاس ورکړ، انګریزانو ټول په مالټا (ټاپو) کې بندیان کړل او هلته یې دری کاله اوته میاشتې زندان تیر کړ.

او شیخ الهند یې له مرګ دوه میاشتې دمخه راپرېښود .

دری واړه شــاګردانو (د چارســدې مولانا ســیف الرحمان، مولانا عبیدالله ســندي او مولانا منصـــور انصـــاري) یې همـدې غورځنـګ د موخو له پاره افغانســـتان کې زیات کلونه تیر کړل عبیدالله سندهي خو اوه کاله کابل کې تېر کړل.

او سـیف الرحمن مولوي صـاحب هم زیات وخت کابل کې تېر کړل او د ژوند وروستیو کلونو کې پېشور ته راغی، دلته وفات اوپه خپل کلي چارسده خښ شو .

۱- له همدې امله د شیخ الهند تحریک ته وربښمین غورځنګ ووېل کیږي.

مـــــولانا منصـورانصـاري (۱۳۰۱هـ مړینه : ۱۳٦٥هـ۱۹٤٦ز) چې دشـیخ الهند نژدې شـاګرد اوپیـاوړی عالم و خپـل نوم یې((محمـد میـان)) و د مولوي عبیـدالله زوی اود درالعلوم دیوبنـد دموسس مولانا قاسم نانوتوي دلور له لوري سـسـکه لمسی و ، پرکال (۱۳۰۱ هـ۱۸۸۳ز ) د دهند سهار نپور ولایت د((دیوبند)) سـیمه کې وزیږید ، دورېښــمن غورځنګ فعال غړی و ، پرکال ۱۹۱٦ز کابل ته د شـیخ الهند مولانا محمودالحســن په ښـوونه راغی ، او دلته یې نژدې ۳۳کاله تیرکال کړل اوهمدلته وفات هم شـو او د لغمان په مهتر لام هدیره کې خښ شـو د خپلواکي پلوی، فکرمند او زیارکښ لیکوال هم و، ښه سیاسي بصیرت یې درلود (۱)

۱- د مفتي حبیب الله قاسمي صیب کتاب، د اسلام لنډ تاریخ، دریمه برخه اسلامي تمدن اوثقافت (په لږ بدلون سره) ابوسعید راشد

**اتـــم: گونتانامو:**




د کیوبا له پنځلس ایالتونو څخه یو ایالت دی چې د پلازمیني (هوانا ) ختیځ ته د کیوبا په ختیځ څوکه کې موقعیت لري، د دې ایالت مرکز هم د (گونتانامو ) په نوم یادیږي.

**تاریخي ارزښت:**

کله چې په (۲۰۰۱ز) کې امریکائي ښکېلاک په افغانستان یرغل وکړ نو د دې سیمې اصلي بچیان یې د تروریستانو په نوم په "گونتانامو " کې د هغوی له لوري جوړ شوي وحشي زندان کې ساتل، او په سلگونو څه چې په زرگونو ازادي غوښتونکونو ځوانانو په کې د تعذیب او مشقت شپې سبا کړې، او په قفصونو او پنجرو کې یې کړاوونه وگالل.

**د گونتناموزندان پېژنه**

د گونتناموزندان په کال ۲۰۰۲ کې د کیوبا په گونتنامو خلیج کې امریکایانو جوړ شو، هغلته یې د طالبانو او القاعدې هغه سرښندونکي مجاهدین ساتل چې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو خلاف جنگېدل او بیا هغوته په لاس ورغلي وو.

د غه وحشي زندان که څه هم په نړیواله کچه د ټولو سازمانونو له لوري په بشري وحشت پېژندل شوی، او د بښنې نړیوال سازمان په شمول د نړۍ د بشري حقونو د ټولو سازمانونوله لوري د بشري حقونو په ترپښو لاندې کوونکي شهرت لري ، او تل یې د بندېدلو غوښتنه شوې، خو بیاهم د تأسیس له ورځې تر ننه په کې په خلاص مټ پر بندیانو ظلمونه او وحشتونه کیږي، مظلوم مجاهدین د حق غوښتنې په جرم په کې ربړول کیږی.

د بشر دوستي دروغجن ټېکداران دې وحشت ته دليلونه تراشي، که ورته وايې: د امريکا په قانون کې د بنديانو ځورول منعه دي، وايي: دا زندان د امريکا له خاورې وتلی د کيوبا په خاوره کې دی هغلته د امريکا قانون نه شي پلي کېدلی.

او که ورته وايې: چې دا خو د ژنيود کنوانسون خلاف دی چې له جنګي بنديانو سره د بدې روېې اجازه نه ورکوي، هغوی وايي: دا قانوني او جنګي بنديان نه، بلکې تروريستان دي چې د ژنيو کنوانسون پرېکړو او مقرات نه پرې پلي کيږي.

د ګونتامو زندان کې له تيرو ۱۳ کلونو راهيسي د ۳۵ اسلامي هيوادونو تر (۷۰۰) زيات کسان د کوم جرم له اثبات پرته بې سرنوشته په کلونوکلونو پراته دي.

ځينې يې په بند کې بشردوستانو تر شکنجو لاندې سا ورکړه، ځينې له فېزيکي پلوه نيمګړي شول، او يې له ډېروه کړاوونو ګاللو وروسته را خوشي شول. چې په هغوی کې د اسلامی امارت پنځه مشران ( ملا نورالله نوری، ملا محمد فاضل، ملا خير الله خير خوا، ملا عبد الحق وثيق او ملا محمد نبي عمری) هم




وو چې په پکتيکا کې نيول شوي امريکايي (بوبريګډال) په بدل راخوشي شول، او اوس په قطر کې د طالبانو په سياسي دفتر کې شپې ورځې تېروي.

**نهم**: **ډیګو ګارشیا**:

د هند سمندر په منځ کې پروت ټاپو دی چې د هند او سریلانکا دواړو له جنوبي ساحل څخه نږدې زر کلومتره واټن لري، دا ټاپو (٦٠) کلومتره اوږوالی او (٨) اته کلومتره سور لري، په شپاړسمه پېړۍ کې پرتګالي ماڼوګانو موندلې، تر اتلسمې پېړۍ پورې هیڅ ابادي په کې نه وه، له هغه ورسته فرانسویانو د خپلو هندي او افریقایي غلامانو په مټ د کوپرې د حاصلاتو له پاره اباده کړ، په (١٨١٤ز) کې د برطانیې لاس ته ولوېد.

**تاریخي او سیاسي ارزښت**:

**لومړی**: په (١٩٧٣ز) کې ځایي اوسیدونکي (د هندي او افریقایي غلامانو اولاده چې پلورنو یې دا دښته د انساني ژوند جوګه کړې وه) په زور وطن پرېښودلو ته اړایستل شول، برطانیې او امریکا په ګډه د بحري او هوایي ځواکونو له پاره دلته پوځي اډه جوړه کړه چې تر اوسه یې کاروي. هغوی تل د خپل پلرني ټاټوبي غوښتنه کړې خو بشر دوستانو یې په خبره غوږ نه دی ګیرولی، په (٢٠٠٦ز) یواځې (١٢٠) تنو ته د یوې انۍ له پاره د خپلو نیکونو د زیات او کورونو لیدلو اجازه ورکړل شوه.

**دویم**: وېل کیږي په کال (١٩٩١ز) او( ٢٠٠٣ز) کې د عراق خلاف جنګ او همداراز په (٢٠٠١) کې د افغانستان په جنګ کې (بي ٥٢) ډوله طیارو زیاتره له همدې اډې د بمبار له پاره پورته کېدلې.

**دریم**: دا چې د هند په سمندر کې دا یواځنی ټاپو دی چې امریکا د خلایي څېړنو ادارې (ناسا) ته په کې دخلایي جهازونو راکوزولو اجازه ورکوي.

**څلورم**: داچې په ټوله نړۍ کې د (جي، پي، ایس) (ګلوبل، پوزیشننګ، سسټم) له پاره کاریدونکو درې ستنو څخه یوه یې همدلته درول شوې.

**پنځم** : داسې شک کیږي چې امریکا دلته هم د ګونتانامو په څېر یو پټ ، ربړوونکی زندان هم لري.

### لسم: برمودا جزيرې :

برمودا " د محيط اطلسي (بحر اقيانوس) په لويديځه څنډه کې له څو جزيرو جوړ د يوه هيواد نوم دی چې د امريکا متحده ايالاتو ختيځ لور ته پرتې دي، او د دې هيواد پلاز مېنه (هميلټن) نومې ښار دی.

برمودا فرضي مثلث دی چې د امريکاد فلوريډا آيالت (ميامي) او د کيوبا ختيځ ته پرته جزيره (......) او د (برمودا) جزيره يې درېګونې زاويې جوړوي، او هره ضلع يا پښتۍ يې (۱۵۰۰) کيلومتره کيږي، او ټول مساحت يې دوه ميلونه مربع کيلومتره ته رسيږي .

### حيرانوونکې پېښې

دا پراخه سيمه د (برمودامثلث) په نوم ياديږي، او وېل کيږي ډېرى داسې پېښې په کې کيږي چې د عقل له دائرې وتلې دي، دبېلګې په ډول:

په (۱۸۱۳ز) کې د امريکا د درېم صدر نائب (ارون بر) لور چې د جنوبي کيرولينا د والي مېرمن وه د پلار ليدلو ته په سمندري بېړۍ کې روانه وه په دې سيمه کې ترې تم شوه. پلار يې د هر ډول وسائلو له کارولو سره، سره بيا هم هيڅ څرک معلوم نه کړ.

په (۱۹۱۴- ۱۹۱۸ز) کې د لومړۍ نړيوالې جګړې په مهال د امريکې ستره فوځي بېړۍ (سائکلوپس اې) همدلته د خيالي بلاګانو ښکار شوه.

په (۱۹۵۸ز) کې د نامتو امريکايي پيلوټ (هيري کونوور) بېړۍ و تښتول شوه بياد څه موده وروسته له سپرليو تشه د فلوريډا په سمندر غاړه کې پرته وه.

او داسې نورې پېښې، تر دې په يو وخت خو به له اروپا څخه تلونکو الوتکو کې د سفر په مهال مسافرو پوښتنه کوله چې د برمودا مثلث له سيمې خو به نه تيريږي، که به ورته ووېل شول چې په همدې فضاء کې ځي نو خلکو په داسې الوتکه کې سپرکولو ته زړه نه ښه کاوه.

**ډريګن مثلث** (**شيطاني سمندر**)

په بحر الکاهل (ارام سمندر) کې د جاپان او فلپين په جنوب کې پروت دی چې د برمودا په څېر له رازونو ډک دی، د جاپان جنوبي ښار (کوهاما) د او چاپاني جزيرې (ماريانا) او د فلپين (ګوام) نومې جزيره يې درې ګونې زاويې جوړوي. (١)

دلته هم د ډېرو حيرانوونکو او نه منل کېدونکو پېښو خبرې کيږي، د بېلګې په ډول:

په (١٩٥٢-١٩٥٤ز) کې په دې سيمه کې د چاپان ستره پوځي بېړۍ له (٧٠٠) پوځيانو سره نادرکه شوه، جاپانيانو يې د پلټنې له پاره سل سائنس پوهان په بل سمندري جهاز کې پسې ولېږل هغه هم د نابلدې بلا خوراک شول.

وېل کيږي چې په دويمه نړيواله جګړه کې د جاپان پنځه سترې الوتک وړونکې بېړۍ، (٣٤٠) الوتکې، لس جنګي بېړۍ، او (٤٠٠) سوه جنګي طيارې ټول د همدې بلا ښکار شول.

همدا راز په (١٩٨٤ز) کې د روسيې اټومي اوبتل (دکئر ١) همدلته نادرکه شو.

له هغه پنځه مياشتې وروسته په همدې کال د روسيې بل اټومي اوبتل (ايکو ١) هم همدلته خپل ژوند له لاسه ورکړ. او د ېته ورته د روسيې دوه نورو اوبتلو (ايکو ٢، جولف١) د ورکېدلو خبره کيږي.

---

١- د مولانا عاصم عمر کتاب، برمودا تکون اور دجال (٢٩) کې درې ګونې کونجونه همدا ليکلي، خو په عمل کې له نقشې سره د ماريانا جزيرې سمونو نه خوري، بلکې يوکوهاما، ګوام او د فلپين او تايوان تر منځ کومه جزيره يې دريم کونج جوړوي. ابوسعيد.

په (۱۹۸۴ز) کې د فرانسې اټومي اوبتل(چارلي) او په (۱۹۸۲ز) کې د برطانيې اوبتل(کسټرول) هم د همدې بلا خوراک شول.

او همدارا ز په دې فضاء کې د الوتکو د لادرکه کېدلو خبرې هم کيږي.[۱]

**پوښتنه**: ايا برمودا مثلث او شيطاني سمندر ربښتيا يو حقيقت دی، که ايله خوشې، تشې افساني دي؟.

**ځواب**:

۱. پخوانيو عيسايانو برمودا مثلث د دوزخ دروازه ګڼله.

۲. ځينې وايي: دا سيمې زورو سمندري طوفانونه لري چې له امله يې پېښې زياتې په کې کيږي.

۳. ځينې په دې سيمه کې د زلزلو ډېروالي د داسې پېښو لامل ګڼي.

۴. ځينې وايي: په دې سيمه کې د مقناطيسي، او برقي قوت زياتوالي د دې پېښو لامل دی.

۵. يوه ډله د برمودا قوت له روحانيت سره تړي.

۶. مشهور مصري محقق محمد عيسی داود په خپل کتاب (الخيوط الخفيه) کې برمودا مثلث، او شيطاني سمندر د دجال استوګنځايونه ګڼي او په دې خبره يې ډېر زور وکړی، حديثونه، اثار او د علماوو نظرونه يې راغونډ کړي دي.

۷. او همدارا ز ملانا عاصم عمر په خپل کتاب (برمودا تکون) کې او مفتي ابو لبابه هم په خپل کتاب (دجال کون، کهان، کب(۱۸۲-۱۹۳) کې هم دې لوري ته مائل ښکاري.

---

۱- د حوادثو د بشپړ تفصيل له پاره د مولانا عاصم عمر کتاب برمودا تکون اور دجال (۲۹-۳۷) بلکې تر پايه کتلی شی. ابوسعيد

۸. او د اوسني عصر له پرمخ تللي ټيکنالوجي سره بلد خلک بيا دا طبعي واقعات ګڼي چې د انساني تېروتنو په بنسټ د سمندر په نورو برخو او يا هم وچه کې داسې پېښې کېږي، خو دې ته خلک متوجه او نورو ته متوجه شوي نه دي.

که سړی پوره متوجه شي او يا هغه پېښې روښتيا وګڼي نو کېدلی شي چې همدله دې د دجال او جساسې هستوګنځی وي، چې د حضرت تميم الداري رضی الله عنه په روايت کې يې يادونه شوې.

خو بيا هم انساني تحقيقات د شرعي نصوصو يقيني مصداق نه شي ګرځېدلی،او داسې په کار هم نه ده، ځکه انساني تحقيقاتو کې پنځوس سلنه د غلطي امکان وي، نو که موږ يې د نصوصو يقيني مصداق وګڼو او بيا غلط شي خلک په همدا غلطي (نعوذ بالله) د قرآن او حديث غلطي وګڼي.

لکه په يوناني فلسفه کې افلاک د اسمانونو مترادف ګڼل شوي، او په همدې بنسټ وېل کېدل چې سپوږمۍ په لومړي، عطارد په دويم، زهره په درېيم او لمر په څلورم اسمان کې له د مېخونو په څېر ټکوهل شوي دي، او زموږ په ځينې تفسيرونو کې هم دا خبره ليکل شوې،خو کله چې اوسنۍ ټکنالوجي د يونانيانو دا نظريه غلطه کړه ځينې خلکو په دين نيوکې شروع کړې، او ځينې ملاصاحبانو بيا له بدهيانو انکار وکړ او دا يې د کفر خبرې او له اسلام سره په ټکر کې وګڼلې، سره له دې چې که موږ اسلامي روايات وګورو هغه هم اسمان او فلک سره بېل ګڼي،او لمر، سپوږمۍ يو هم په اسمانو کې نه ګڼي، بلکې دا ټول تر اسمان لاندې په خلاصه فضاء د نور په ځنځيرونو راټال ګڼي. (١)

---

١- د بشپړ تفصيل له پاره زموږ کتاب "نوی هييت او اصول يې" (٢١-٢٩) مخ کتلی شی. ابو سعيد.

# پنځم فصل

## بهاند دریــابونه:

دریاب هغه بهاندو اوبو ته وايي چې له يوې سيمې بلې ته په ځپو وي.

دریاب چې له کومه ځایه پیل کیږي هغه ته ((منبع) وايي، چې اکثره واورین غرونه او یا هم بحیره وي. او پاي ټکي ته يې (منتهی) وايي. چې اکثره سمندرونه، او سمندرګي وي.

د ځمکې په مخ ډېر داسې بهاند دریابونه شته چې له يوې سیمې بلې ته اوبه لېږدوي، خو موږ يې يوائې د هغو يادونه کوو چې له اسلامي تاريخ سره تړاو لري، او يا يې په اسلامي رواياتو کې يادونه شوې وي، او يا دا چې کومه ځانګړتیا ولري.

**لومړی : نیل:**

د نیل مشهوره دریاب په افريقا کې موقعيت لري، له تنزانیا ځخه پیل ، یوګانډا ، جنوبي سوډان، شمالي سوډان، او مصر ځخه تېرېږي او په پای کې په مديترانه کې توی او خپل وجود له لاسه ورکوي.

( ۶۶۵۰ )کلومتره اوږوالی لري. چې په نړۍ تر ټولو اوږ دریاب دي.

او په ټوله کې ددې سیند په غاړه لس هیوادونه پراته دي:

یوګانډا ، ایتهوپیا ، بوروندي، تانزانیا ،کانګو ، رواندا ،کینیا ، جنوبي سوډان، سوډان، مصر.

## د نیل خاښونه (ځانګې) او منبع:

په پیل کې نیل دریاب دوه خاښونه یا څانګې لري:

۱-: **نیل ابیض**.


**نیل ابیض**: له وکتوریه نومي سمندرګي (بحیرې) څخه پیل کیږي او له (۷۰) کلومتره سفر وروسته (کییوجا) نومې بحیرې ته توییږي، او د نیل دې برخې ته (وکتوریه نیل) وایي. بیا له یوه څه سفر وروسته (البرت) نومې بحیرې ته رسیږي ،له دې ځای څخه تر تېرېدلو وروسته ورته (نیل البرت) وایي، او کله چې د جنوبي سوډان خاورې ته ننوځي ،نو بیا یې (بحر الجبل) بولي ، او بیا له یوه اوږده سفر وروسته له (بحر الغزال) سره یوځای کیږي چې په همدې جنوبي سوډان کې د لوېدیځ له لوري تر (۷۱۲) کلیومتره سفر وروسته نیل (یا بحر الجبل) ته ور توییږي، او بیا نیل خپل سفر ته دوام ورکوي ، تریوه اوږده سفر وروسته ، د سوډان پای تخت (خرطوم ) ته نږدې له (نیل ازرق ) سره یوځای کیږي.


**یادونه**:

وکتوریه په اصل کې د برطانیا د یوې ملکې نوم دی، خو هغوي د خپلې امپراطورې په مهال هرڅه داسې ګرځولې لکه چې د هغوی د لاس او هڅو پیداوار وي، دوی داسې دعوه لري چې د هغوی د واکمنې په مهال یو سړی د نیل د سرچینې پیدا کولو په موخه د نیل په غاړه روان شو او له اوږدو مزلونو او سترې کوونکو منزلونو وروسته یې د هغه سرچینه (همدا بحیره) وموندله نو ځکه یې د خپلې ملکې په نوم نومولې، خو حقیقت دادی چې د دوی تر واکمنۍ سلګونو کلونه وړاندې اسلامي هیئت پوه (الادریسي) په خپلو کتابونو کې نیل سرچینه همدا بحیره بللې .

**۲-: نیل ازرق.**

نیل ازرق د حبشې (اوسنی ایتهوپیا ) له (ټانا ) نومي بحیرې څخه سرچینه اخلي او له ( ۱۴۰۰ ) کلومتره سفر وروسته له خرطوم سره نیل ابیض ته تويیږي، او له همدې ځایه بیا د (نیل اکبر ) شکل خپله وي، له سوډان بیا مصر څخه تېري او بحر متوسط یا مدیترانه تر تویېدلو لږ وړاندې بیا هم په دوه برخو وېشل کیږي، اوبالاخر له اسکندریه نومي ښار سره نږدې بحر متوسط (مدیترانې) ته تويیږي. د مصر پخواني واکمن جمال عبد الناصر د مصر او سوډان پر پوله د همدې نیل په سر (ناصریه) نومی بند جوړ کړ چې په پایله کې یې یوه مصنوعي بحېره، یاجهیل رامنځته شو.



**اسلامي تاريخ**:

او همدا نيل هغه نېکبخته درياب دى چې د موسى عليه الصلاة والسلام صندوق يې په امانت داري سره د فرعون تر کوره ورساوه.

او نيل يو له هغه څلورو دريابو څخه دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته د جنت نهرونه وېلي دي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «سَيْحَانُ وَجَيْحَانُ، وَالْفُرَاتُ وَالنِّيلُ كُلٌّ مِنْ أَنْهَارِ الْجَنَّةِ» صحيح مسلم (٤/ ٢١٨٣)

ابوهريره رضى الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وېلي: سيحان، جيحان، فرات او نيل ټول د جنت له نهرونو څخه دي.

**پوښتنه** : موږ وينو چې دا څلور واړه نهرونه د ځمکې په مخ له غرونو يا سمندرګيو څخه پيل او په سيندونو يا سمندرګيو کې توييږي، نو د جنت نهرونه څنګه شول او د دې حديث معنا څه ده؟

ځواب: علماء د دې حديث څو معناوې بيان کړې دي:

١-:معنا دا چې د جنت ور خلک دلته اوسيږي.

٢- په جنت کې همدا سې نهرونه دي چې دا د هغو بېلګې دي.

٣- دا د بر برکتي نهرونه دي.

۴- او ځينې علماء يې ظاهري معنا اخلي چې له جنت نه را بهيږي. خو دا چې څنګه ؟ موږ پرې نه پوهيږو. ([1])

---

١- قال الشيخ العلامه المنلا على القاري: إِنَّمَا جَعَلَ الْأَنْهَارَ الْأَرْبَعَةَ مِنْ أَنْهَارِ الْجَنَّةِ لِمَا فِيهَا مِنَ الْعُذُوبَةِ وَالْهَضْمِ، وَلِتَضَمُّنِهَا الْبَرَكَةَ الْإِلَهِيَّةَ وَتَشَرُّفِهَا بِوُرُودِ الْأَنْبِيَاءِ إِلَيْهَا وَشُرْبِهِمْ مِنْهَا، ذَلِكَ وَمِثْلُ قَوْلِهِ - صَلَّى اللَّهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي عَجْوَةِ الْمَدِينَةِ: (إِنَّهَا مِنْ ثِمَارِ الْجَنَّةِ) . وَيُحْتَمَلُ أَنَّهُ عَنِ الْأَنْهَارِ الَّتِي هِيَ أُصُولُ أَنْهَارِ الْجَنَّةِ

او دا هغه درياب دی چې عمر رضی الله عنه ليک ورته ليکلی و.

وېل کيږي چې مصر ته د اسلامي لښکر تر رسېدلو وړاندې دا سې انګېرنه کېده چې نيل دريات ته چې يوه ښکلې پېغله ونه غورځوله شي او به يې نه راځي او وچيږي، نو کله چې د هغوی ددې ناوړه دود موسم رانږدې شو د مصر والي عمروبن العاص رضی الله عنه اميرالمؤمنين عمربن الخطاب رضی الله عنه ته ليک واستاوه او د مصريانو ددې ناوړه دود يادونه يې ورته وکړه، عمر رضی الله عنه ورته په ځوابي ليک کې دا سې وليکل:

من عمر أمير المؤمنين إلى النيل إن كنت تجري من عندك فلا حاجة لنا بك، وإن كنت تجري بفضل الله، فاللّٰهُمَّ بارك لنا. الحضارة الإسلامية (ص: ٧٩)


د اميرالمؤمنين عمر له لوري نيل ته: که په خپله خوښه بهېږې موږ درته هيڅ اړتيا نه لرو، او که د الله جل جلاله په فضل روان يې نو اې الله! موږ ته په کې برکت واچوه.

او عمرو بن العاص رضی الله عنه ته يې سپارښتنه وکړه چې زما دا ليک نيل ته وغورځوه، وېل کيږي له دې وروسته د نيل په اوبو کې کله هم دا سې کمي نه دی راغلي چې خلک له تندې سره مخ شي.

---

بِتِلْكَ الْأَسَامِي لِيُعْلَمَ أَنَّهَا فِي الْجَنَّةِ بِمَثَابَةِ الْأَنْهَارِ الْأَرْبَعَةِ فِي الدُّنْيَا، أَوْ لِأَنَّهَا مُسَمَّيَاتٌ بِتِلْكَ الْأَسْمَاءِ، فَوَقَعَ الِاشْتِرَاكُ فِيهَا، كَذَا ذَكَرَ شَارِحٌ مِنْ عُلَمَائِنَا. مرقاة المفاتيح (٩/ ٣٥٨٦)

و قال النووي: وَأَمَّا كَوْنُ هَذِهِ الْأَنْهَارُ مِنْ مَاءِ الْجَنَّةِ فَفِيهِ تَأْوِيلَانِ ذَكَرَهُمَا الْقَاضِي عِيَاضُ أَحَدُهُمَا أَنَّ الْإِيمَانَ عَمَّ بِلَادَهَا أَوِ الْأَجْسَامُ الْمُتَغَذِّيَةِ بِمَائِهَا صَائِرَةٌ إِلَى الْجَنَّةِ وَالثَّانِي وَهُوَ الْأَصَحُّ أَنَّهَا عَلَى ظَاهِرِهَا وَأَنَّ لَهَا مَادَّةٌ مِنَ الْجَنَّةِ وَالْجَنَّةُ مَخْلُوقَةٌ موجودة اليوم عندأهل السنة وقد ذكر مُسْلِمٌ فِي كِتَابِ الْإِيمَانِ فِي حَدِيثِ الْإِسْرَاءِ أَنَّ الْفُرَاتَ وَالنِّيلَ يَخْرُجَانِ مِنَ الْجَنَّةِ وَفِي البخارى من أصل سدرة المنتهى شرح النووي على مسلم (١٧/ ١٧٧)



۲-: **اميزون**:

اميزون درياب سره که څه هم کوم اسلامي تاريخ او يا هم کومه پېښنه تړاو نه لري ، خو څرنګه چې په نړۍ کې د اوږوالي له پلوه دويم او د ابود زياتوالي له پلوه تر ټولو ستر درياب دی، نو ځکه يې لنډ او مختصر معلومات ستاسو مخې ته ږدو:

اميزون: په جنوبي امريکا کې موقعيت لري ، د دې وچې د مغربي هيواد ((پېرو )) له ((نيواډو )) نومي سيمې سرچينه اخلي او د مشرق لورته له کولمبيا او برازيل څخه تېريږي او له شپږ زره څلور سوه کيلومتره سفر وروسته بحر اقيانوس ته توييږي. او د دې ستر مزل په اوږدو کې شاوخوا زر واړه دريابونه ورګډيږي.

لکه چې وويل شول د ابو له پلوه تر ټولو شتمن درياب دی چې سمندر د ټولو تويېدونکو اوبو پنځه جوړوي، وسور (عرض ) يې په منځنۍ توګه له يوسل شل کيلومتره تر يوسل نوي کيلومترو رسيږي.

۳-۴- **فرات او دجله** :

دجله او فرات دواړه په اسيا کې موقعيت لري، او له ډېر اسلامي او تاريخي قدامت څخه برخمن دي، د اسلامي نړۍ مشهوره ښارونه کوفه او بصره د همدې دريابونو په شاوخوا کې پراته دي.

**لومړنی: فرات:**




وېل کيږي فرات د کردي ژبې له ويوکی ((فر ريهات)) څخه جوړ دی: (فر) د پراختيا، (ري) د بهاندو ، او (هات) د بهېدلو په معنا ده، معنا دا چې پراخې بهاندې اوبه.

فرات دوه زره اوه سوه اتيا(۲۷۸۰) کيلو متره اوږ ، او دوه خاښونه او څانگې لري، يوې ته يې (کارا يا مغربي فرات) او بلې ته يې (مراد ، يا مشرقي فرات) وايي.

**مغربي فرات:** د اوسنۍ ترکيې د ((ارضروم)) سيمې په شمال کې د آرمينيا له غرونو سرچينه اخلي.

**مشرقي فرات:** بيا د همدې ترکيې د (وام) نومي جهېل په شمال کې د ( ارارات) له غرونو رابهيږي. دغلته د ترکيې په خاوره کې سره يو کيږي او بيا د سوريې او ورپسې د عراق خاورې ته ننوځي. او بيا بصرې ته نږدې له (اکرمه علي) نومي ښار په خوا کې له دجلې سره يوځای کيږي . او همدا فرات يو له هغه څلورو دريابونو دی چې د جنت دريابونه گڼل شوي.

**دويم: دجله:**

دجله هم د ترکيې او ارمنيا له غرونو سرچينه اخلي ، په ترکيې کې تر څه مزل وروسته د سوريې په سرحد تېر او د عراق خاورې ته ننوځي له يوزر اوه سوه اتلس کيلو متره سفر وروسته بصرې ته نږدې له فرات سره يوځای کيږي او شط العرب نومی درياب ترې جوړيږي، او بلاخر خليج فارس ته توييږي.ددې دواړه دريابونو منځنۍ سيمې ته مابين النهرين وايي. چې ډېر قدامت او لوړ اسلامي تاريخ لري.

**شط العرب**:

لکه چې ووېل شول د فرات او دجلې مجموعې ته ((شط العرب)) وايي، څرنګه چې دجله او فرات د عراق په خاوره کې سره يوځای کيږي نو وېلی شو چې ((شط العرب)) نومی درياب په عراق کې موقعيت لري، له بصرې پيل شوی ،له لنډ سفر وروسته د عراق او ايران سرحد ته ننوځي او تر دوه سوه کيلومتره (۲۰۰) سفر وروسته په خليج فارس کې خپل ژوند له لاسه ورکوي. او منځنی عرض يې دوه سوه دوه دېرش متره دی.

| | |
|---|---|
| موقعيت | آسيا ، عراق |
| طول | ۲۰۰ کم |
| عرض | ۲۳۲ متره. |

او په (۱۹۸۰ز) کې د عراق او ايران د جنګ لامل همدا شط العرب ملکيت و. ځکه د دې درياب ختيځ ته د ايران ((ابادان)) او لوېديځ ته يې د عراق ((بصره او امر قصر))ښارونه پراته دي.

۵-۶ : **سيحان او جيحان**:




دا دواړه دريابونه هم په آسيا، او بيا په ترکيه کې موقعيت لري، لومړی يې له ((اذنه)) نومي ځای څخه پيل او له پنځه سوه شپېته (۵۲۰) کيلومتر مزل وروسته مديترانې ته توييږي. او دويم يې بيا له ((مصمصه)) نومي ځای څخه پيل او تر پنځه سوه نهه (۵۰۹) کيلومتره سفر وروسته دا هم مديترانې ته توييږي.

او دا دواړه له هغه څلور نهرونو څخه دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د جنت نهرونه ګڼلي.

### ۷-۸: سیحون او جیحون:

سیحون او جیحون په منځنۍ اسیا کې موقعیت لري.

**سیحون**: د قرغزستان ختیځ سرحد له غرونو پیل شوی، د ازبکستان، او قزاقستان له خاورې تېرېږي او له دوه زره ،دوه سوه شل (۲۲۲۰ ) کیلومتره مزل وروسته (ارال ) نومې بحېرې ته تویېږي.

**جیحون** ( **اموسیند**): د پامیر د غرونو له شمال ختیځ لوري پیل شوی ، د افغانستان، او تاجکستان په پوله له یوڅه مزل وروسته تاجکستان ته ننوځي بیا د ازبکستان او ترکمنستان له خاورې تېرېږي او په پای دا دریاب هم (ارال ) نومي سمندرګي ته تویېږي.




او همدې دریاب ته په اسلامي تاریخ کې ((النهر)) نوم ورکړ شوی او له دې دریاب څخه شمال ته پرتو سیمو ته ((ماوراء النهر)) وایي. او همدې سیمې په خپله غېږه کې د امام بخاري ، امام ترمذي، شمس الائمه سرخسي ، علامه قاضي خان او علامه مرغیناني غوندې سترې هستۍ اسلامي نړۍ ته وړاندې کړې دي.

افسوس چې نن په کې له لسانس چا ته د اذان کولو ، لمونځ کولو ، او تر دېرش کلنۍ کم عمر کې جومات ته د تللو اجازه نشته.

**پوښتنه**: ایا سیحان جیحان ، او سیحون جیحون یو دي او که سره بېل دي؟

قاضي عیاض رحمه الله  یې یو ګڼي، خو امام نووي او ډېرى محققین بیا په دې اند دي چې بېل بېل دریابونه دي، لکه چې وو بېل شول ، سیحان او جیحان په ترکیه کې او سیحون ، جیحون بیا په منځنۍ اسیا کې دي. امام نووي رحمه الله د صحیح مسلم په شرح کې وایي:

**[٢٨٣٩]** قَوْلُهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (سَيْحَانُ وَجَيْحَانُ وَالْفُرَاتُ وَالنِّيلُ كُلٌّ مِنْ أَنْهَارِ الْجَنَّةِ)

اعْلَمْ أَنَّ سَيْحَانَ وَجَيْحَانَ غَيْرُ سَيْحُونَ وَجَيْحُونَ فَأَمَّا سَيْحَانُ وَجَيْحَانُ الْمَذْكُورَانِ فِي هَذَا الْحَدِيثِ اللَّذَانِ هُمَا مِنْ أَنْهَارِ الْجَنَّةِ فِي بِلَادِ الأرمن فجيحان نهر المصيصة وسيحان نهر إذنه وَهُمَا نَهْرَانِ عَظِيمَانِ جِدًّا أَكْبَرُهُمَا جَيْحَانُ فَهَذَا هُوَ الصَّوَابُ فِي مَوْضِعِهِمَا وَأَمَّا قَوْلُ الْجَوْهَرِيِّ فى صحاحه جيحان نهر بالشام فَغَلَطٌ أَوْ أَنَّهُ أَرَادَ الْمَجَازَ مِنْ حَيْثُ إِنَّهُ بِبِلَادِ الْأَرْمَنِ وَهِيَ مُجَاوِرَةٌ لِلشَّامِ قَالَ الْحَازِمِيُّ سَيْحَانُ نَهْرٌ عِنْدَ الْمُصَيِّصَةِ قَالَ وَهُوَ غَيْرُ سَيْحُونَ وَقَالَ صَاحِبُ نِهَايَةِ الْغَرِيبِ سَيْحَانُ وَجَيْحَانُ نَهْرَانِ بِالْعَوَاصِمِ عِنْدَ الْمُصَيِّصَةِ وَطَرْسُوسَ وَاتَّفَقُوا كُلُّهُمْ عَلَى أَنَّ جَيْحُونَ بِالْوَاوِ نَهْرٌ وَرَاءَ خُرَاسَانَ عِنْدَ بَلْخٍ وَاتَّفَقُوا عَلَى أَنَّهُ غَيْرُ جَيْحَانَ وَكَذَلِكَ سَيْحُونُ غَيْرُ سَيْحَانَ. وَأَمَّا قَوْلُ الْقَاضِي عِيَاضُ هَذِهِ الْأَنْهَارُ الْأَرْبَعَةُ أَكْبَرُ أَنْهَارِ بلاد الاسلام فَالنِّيلُ بِمِصْرَ وَالْفُرَاتُ بِالْعِرَاقِ وَسَيْحَانُ وَجَيْحَانُ وَيُقَالُ سَيْحُونَ وَجَيْحُونَ بِبِلَادِ خُرَاسَانَ فَفِي كَلَامِهِ إِنْكَارٌ مِنْ أَوْجُهٍ :

أَحَدُهَا: قَوْلُهُ الْفُرَاتُ بِالْعِرَاقِ وَلَيْسَ بِالْعِرَاقِ بَلْ هُوَ فَاصِلٌ بَيْنَ الشَّامِ وَالْجَزِيرَةِ

وَالثَّانِي: قَوْلُهُ سَيْحَانُ وَجَيْحَانُ وَيُقَالُ سَيْحُونُ وَجَيْحُونُ فَجَعَلَ الْأَسْمَاءَ مُتَرَادِفَةً وَلَيْسَ كَذَلِكَ بَلْ سَيْحَانُ غَيْرُ سَيْحُونَ وَجَيْحَانُ غَيْرُ جَيْحُونَ بِاتِّفَاقِ النَّاسِ كما سبق.

الثالث: أَنَّهُ بِبِلَادِ خُرَاسَانَ وَأَمَّا سَيْحَانُ وَجَيْحَانُ بِبِلَادِ الْأَرْمَنِ بِقُرْبِ الشَّامِ وَاللَّهُ أَعْلَمُ. (١)

١- شرح النووي على مسلم (٢٢٢/٩)

**٩-: د اردن سیند**:

په آسیا کې موقعیت لري،دوه نیم سوه (**۲۵۰**) کلومتره اږد والی لري چې د دریو دریابونو له یوځای کېدلو رامنځته شوی:




۱- نهر بانیاس.چې له سوریې رابهیږي.

۲- نهر لدان چې له شمالي فلسطین نه راځي.

۳-: نهر حاصباني چې د لبنان څخه سرچینه اخلي.

ددې درې دریابونو په یوځای کېدلو سره نهر الاردن العلیا ترې جوړې چې تر لږ سفر وروسته په بحیره طبریه کې تویېږي، او بیا له هغه ځایه له تېرېدلو وروسته بیا نهر الاردن السفلی ترې جوړ شي او ډېر نور واړه واړه نهرونه ( نهر یرموک، نهر زرقا ) ورګډېږي او بیا اردن او فلسطین په پوله تر یوه اږده سفر وروسته بحر میت ته تویېږي.

همدا نهر د فلسطین او اردن تر منځ د بېلتون کرښه ده څرنګه چې اسرائیلو ته د فلسطین د سپېڅلې خاورې په زړه کې ځای ورکړل شوی او د فلسطین د خاورې نګراني هم هغوی کوي نو ځکه نن سبا دا سیند د اردن او اسرائیلو تر منځ وېشل شوی، مشرقي څنډه یې د اردن او مغربي هغه یې د اسرائیلو په ولکه کې ده. او دا په نړۍ کې یواځنی پل دی چې د درېګوني قوتونه پرې واکمن دي، مشرق ته اردن، مغرب ته فلسطین او ورسره اسرائیلي ښکېلاک.

د همدې سیند له پاسه په "بیسان "[١] نومي سیمه کې د ((حسین ملک پل)) په نوم یو پل جوړ شوی چې د ختیځ لورته د وه برخې د اردن او لوېدیځ لورته یوه برخه یې د اسرائیلو په ولکه کې ده.

او "بلیسان" هغه ځای دی چې د هغه د کجورو په هکله دجال له تمیم داري رضی الله عنه څخه پوښتنه کړې وه چې ایا باغونه یې کجورې کوي که نه؟ نن سبا د اسرائیلو د پرېکولو له امله دا باغونه په کمېدلو روان دي. والله اعلم.

او همدا سیند یا د هغه یوه څانګه هغه نهر دی چې د طالوت ملګرو امتحان پرې اخیستل شوی و.

او د همدې سیند په شاوخوا کې ډېرې معرکې شوې دي:

**لومړی جګړه** : د طالوت د وړوکي ډلې او سرکش جالوت د فوجونو تر منځ جګړه وه چې مسلمانان په کې غالب ول. الله جل جلاله فرمايي:

فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِالْجُنُودِ قَالَ إِنَّ اللَّهَ مُبْتَلِيكُمْ بِنَهَرٍ فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّي وَمَنْ لَمْ يَطْعَمْهُ فَإِنَّهُ مِنِّي إِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةً بِيَدِهِ فَشَرِبُوا مِنْهُ إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ فَلَمَّا جَاوَزَهُ هُوَ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ قَالُوا لَا طَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ قَالَ الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُمْ مُلَاقُو اللَّهِ كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ (٢٤٩) وَلَمَّا بَرَزُوا لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ قَالُوا رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ (٢٥٠) فَهَزَمُوهُمْ بِإِذْنِ اللَّهِ وَقَتَلَ دَاوُودُ جَالُوتَ وَآتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهُ مِمَّا يَشَاءُ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَفَسَدَتِ الْأَرْضُ وَلَكِنَّ اللَّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْعَالَمِينَ (البقرة: ٢٤٩-٢٥١)

**دویمه**: د روم او فارس هغه جګړه چې په سورت روم کې یې یادونه شوې همدلته پېښه شوې.

الم (١) غُلِبَتِ الرُّومُ (٢) فِي أَدْنَى الْأَرْضِ وَهُمْ مِنْ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ (الروم: ١-٣)

---

١- (بیسان) هغه سیمه ده چې په هکله یې دجال له تمیم داري رضی الله عنه او هغه له ملګرو پوښتنه کړې وه چې ایا باغونه یې کجورې کوي؟عن تمیم الداري فی قصة الدجال قال : قال: أَخْبِرُونِي عَنْ نَخْلِ بَيْسَانَ، قُلْنَا: عَنْ أَيِّ شَأْنِهَا تَسْتَخْبِرُ؟ قَالَ: أَسْأَلُكُمْ عَنْ نَخْلِهَا، هَلْ يُثْمِرُ؟ قُلْنَا لَهُ: نَعَمْ، قَالَ: أَمَا إِنَّهُ يُوشِكُ أَنْ لَا تُثْمِرَ. صحيح مسلم (٤/ ٢٢٦٣) باب قصة الجساسة ،رقم الحديث (٢٩٤٢).

نن سبا جغرافيه پوهان وايي: بحرميت (چې د اردن سيند منتهى ده) دا سيمه د سمندر له سطحې يارلس سوه پنځه اتيا فټه (١٣٨٥) ټيټه ده چې په دې ډول دا د (ادنى الارض) ښه مصداق کېدلی شي، ځکه د روم او فارس ترمنځ جګړه په همدې سيمه کې پېښه شوې ده. و الله أعلم

**دريمه**: د ((يرموک غزا)) وه چې اردن په شمالي سيمه يرموک کې د مسلمانانو او روميانو ترمنځ پېښه شوه او د خالدبن وليد رضی الله عنه په مشري د مسلمانانو وړوکی لښکر د روميانو په سلهاو زره لښکر ته ماتې ورکړه.

**څلورمه**: د شلمې پېړۍ په روستيو کې د اردن او اسرائيلو ترمنځ د (معرکه کرامه) په نوم جګړه وشوه چې بيا هم مسلمان اردنيان غالب شول.

**پنځمه**: قيامت ته نږدې له دجال سره به همدلته جګړه کيږي، مسلمانان به د دې سيند شرقي لور ته وي او دجال به يې غربي لور ته وي چې اوس هم يهودي دجال اسرائيل پرې واکمن دی.

رسول الله صلی الله عليه وسلم وايي:

لَتُقَاتِلُنَّ الْمُشْرِكِينَ، حَتَّى تُقَاتِلَ بَقِيَّتُكُمُ الدَّجَّالَ، عَلَى نَهْرٍ بِالأُرْدُنِّ، أَنْتُمْ شَرْقِيَّهُ وَهُمْ غَرْبِيَّهُ.(١)

هرومرو به له مشريکانو سره جګړه کوئ، تردې چې روستني خلک به مو له دجال سره د اردن سيند په خواکې جنګيږي، تاسو به ختيځ او هغوي به لوېديځ ته وي.

ځينې علماء وايي: له دې نه داسې ښکاري چې همدا اوسني اسرائيل د دجال لښکر او ملګري دي. والله أعلم.

---

١- كشف الأستار عن زوائد البزار (٤/ ١٣٨).

# شپږم فصل

## بحيرې (سمندرګي)

بحيرې دوه ډولونه لري:

**لومړي**: بحري بحېرې: د سمندر هغه ساحلي سموته وايي چې وچې ته نږدې او ژور والى يې کم وي. لکه: بحيره عرب، او بحيره کربين. دا ډول بحېرو ته "خليج" هم وايي.

**دويم**: بري بحېرې. يا سمندرګي: په وچه ځمکه کې د اوبو سترو ذخيرو ته بحيره يا سمندرګى وايي.

په دې فصل کې زموږ موخه همدا ډول سمندرګي دي.

### مديترانه (١)

مديترانه، يوناني ويوکى دى چې (مدې) د (منځ) او (ترا) د (ځمکې) په معنا ده، نو (مديترانه) په وچه کې راګيرې اوبه. او مديترانه په وچه کې د راګيرشويو اوبو تر ټولو ستره زخيره ده، همدې بحېرې ته بحر روم، بحرمتوسط، او بحر ابيض وايي، او د ام حرام په حديث کې ورته بحر اخضر هم ويل شوي.(١)

پوښتنه: بحر احضر خو د بحر ظلمات نوم دى، مديترانې ته ځنګه "بحر اخضر " ويل شوي؟.

ځواب: مديترانه هم له په حقيقت کې له بحر ظلمات څخه را بېله شوې ځانګه ده نو ځکه د هغه په نوم (بحر اخضر) يادونه کې کومه ستونزه نشته.

---

١- (٢٧٩٩) - ...عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ خَالَتِهِ أُمِّ حَرَامٍ بِنْتِ مِلْحَانَ، قَالَتْ: نَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا قَرِيبًا مِنِّي، ثُمَّ اسْتَيْقَظَ يَتَبَسَّمُ، فَقُلْتُ: مَا أَضْحَكَكَ؟ قَالَ: «أُنَاسٌ مِنْ أُمَّتِي عُرِضُوا عَلَيَّ يَرْكَبُونَ هَذَا البَحْرَ الأَخْضَرَ كَالْمُلُوكِ عَلَى الأَسِرَّةِ» قَالَتْ: فَادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ فَدَعَا لَهَا، ثُمَّ نَامَ الثَّانِيَةَ، فَفَعَلَ مِثْلَهَا، فَقَالَتْ مِثْلَ قَوْلِهَا، فَأَجَابَهَا مِثْلَهَا فَقَالَتْ: ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ، فَقَالَ: «أَنْتِ مِنَ الأَوَّلِينَ»، فَخَرَجَتْ مَعَ زَوْجِهَا عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ غَازِيًا أَوَّلَ مَا رَكِبَ المُسْلِمُونَ البَحْرَ مَعَ مُعَاوِيَةَ، فَلَمَّا انْصَرَفُوا مِنْ غَزْوِهِمْ قَافِلِينَ، فَنَزَلُوا الشَّأْمَ، فَقُرِّبَتْ إِلَيْهَا دَابَّةٌ لِتَرْكَبَهَا، فَصَرَعَتْهَا، فَمَاتَتْ. صحيح البخاري (٤/ ١٨)

قال ابن الاثير: وكانت تلك الغزوة غزوة قبرس فدفنت فيها. أسد الغابة ط العلمية (٧/ ٣٠٤)

**ځانګړنې**:

مدیترانه دوه نیم میلیونه مربع کیلومتره مساحت لري، او تر ټولو ژوره کنده یې پنځه زره دوه سوه اوویشت متره عمق لري.

**ارزښت**:

ددې اهمیت په دې کې دی چې درې لویې وچې (آسیا، افریقا، او اروپا) یې په غاړه پرتې دي او د دوه نورې (شمالي امریکا، او جنوبي امریکا) ورباندې لاره سپره ده. هغه دا چې د جبل الطارق درې له لارې له بحر اقیانوس سره لګېدلی. او همدا سمندرګی د نړۍ ګوټ، ګوټ ته د بحري سفرونو له پاره تر ټولو لنډه او اسانه لاره ده. په اسلامي تاریخ کې هم مدیترانه زیات رول لرلی دی.

## (۲) بحر میت

بحر میت د اردن سیند پای ټکی یا منتهی ده، داردن او اسرائیلو ترمنځ پروت دی، چې (۷۰) کیلو متر اوږدوالی، (۱۷) کیلو متره سور، او (۳۹۹) متره ژووروالی لري، ټول پراخوالی (۲۵۰) مربع کیلو متره دی.

تر (۱۹۶۷ز) پورې په دوه برخو وېشل شوی و، شمالي برخه یې ټوله د اردن په ولکه کې وه، او جنوبي برخه یې د اردن او اسرائیلو ترمنځ وېشلې وه شرقي خوا یې د اردن او غربي هغه یې د اسرائیلو وه، د (۱۹۶۷ز) په جګړه کې اسرائیل د شمالي برخې غربي حصه هم تر خپل واک لاندې کړه.

**تاریخي ارزښت**:

١. د لوط علیه السلام قوم د همدې سمندرګي په خواکې په سدوم (بابیل) او عمور نومي ښار کې اوسېدل.

۲. د همدې بحر میت جنوبي خواته (عین زغر) هم پرته ده چې دجال یې د اوبو په هکله له تمیم داري رضی الله عنه او د هغه له ملګرو پوښتنه کړې وه.[۱]

۳. او د همدې سیند خواته د موتې غزا هم پیښه شوې. (چې بشپړ تفصیل به یې په قرآني جغرافیه کې راشي.)

**ځانګړې**:

۱. په نړۍ کې د تروو اوبو تر ټولو ستره ذخیره همدا بحر میت دی.

۲. او د مالګې فیصدي یې (۳۰) درجې ده چې تر نورو بحرونو اته ځلې زیاته ده.

۳. دا یوازینی بحر دی، چې هیڅ بوټی او یا هم ژوندي موجود په کې نشته.

۴. انسان په کې نه ډوبیږي. هر څوک که وغواړي حتی که لامبل یې هم نه وي زده، په دغه بحر کې لامبو وهلی شي.

**۵**. خټه یې ډېره ګټوره ده. ډېر خلک په تیره اروپایان او امریکایان له دې ځای څخه لیدنه کوي، ټول ځان په خټو لړي. وایي چې دا خټه د جلد او صحت لپاره ډېره ګټوره ده.

**۶**. د سمندر له ستحې د ځمکې تر ټولو ټیټه نقطه همدا سیمه ده، په خوا یې د سمندر له سطحې ټیټوالی (۴۲۰) متره، او یا (**۱۳۸۵**) فټه و، خو اوس چې اسرائیلو د اردن سیند اوبه د ځمکو خړوبولو له پاره د نهرونو په مټ ګرځولې دي، نو له امله یې د بحرمیت سطحه نوره هم ټیټه او (**۴۷۲**) متره ته رالوېدلې بیا اسرائیلو د دې ستونزې د مخ نیوې له پاره له خلیج عقبه څخه په نلونو کې اوبه ورته راوستلې خو هغه کله د اردن سیند بدیل کېدلی شي؟.

---

۱- عن تميم الداري فى قصة الدجال قال: قَالَ: أَخْبِرُونِي عَنْ عَيْنِ زُغَرَ، قَالُوا: عَنْ أَيِّ شَأْنِهَا تَسْتَخْبِرُ؟ قَالَ: هَلْ فِي الْعَيْنِ مَاءٌ؟ وَهَلْ يَزْرَعُ أَهْلُهَا بِمَاءِ الْعَيْنِ؟ قُلْنَا لَهُ: نَعَمْ، هِيَ كَثِيرَةُ الْمَاءِ، وَأَهْلُهَا يَزْرَعُونَ مِنْ مَائِهَا. صحيح مسلم (٤/ ٢٢٦٣) باب قصة الجساسة ،رقم الحديث (٢٩٤٢).

### د پيدا کېدلو وجه

په اسلامي تاريخ کې د لوط عليه السلام د قوم ترڅنګ په څرګنده ټکيو د دې سمندرګي يادونه نشته، خو يهودي تاريخ ليکونکی (جوزيفس) يې يادونه کړې او عبدالوهاب النجار بيا وايي: چې بحر ميت په اصل کې د همدې واقعې په نتيجه کې رامنځته شوی نو ځکه يې د لوط عليه السلام د قوم په کيسه کې يادونه نه کيږي.

مولانا تقي صيب وايي: همدا خبره له څو وجو راجح ښکاري:

١- په قرآن کريم کې الله جل جلاله د لوط عليه السلام د ايادېو يادونه کوي او وايي هغه شام ته ستاسو په نبغ لار پرتې دي:

{فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِنْ سِجِّيلٍ (٧٤) إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِلْمُتَوَسِّمِينَ (٧٥) وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٍ مُقِيمٍ } [الحجر: ٧٤ – ٧٦]

او دا هم څرګنده ده چې شام ته له عربی ټاپووزمې څخه شام ته همدا لاره نبغه او سيده ده.

٢- په دې سمندر کې هيڅ ژوي او واښه نشته که څه ظاهري وجه يې داده چې اوبه يې زياتې مالګينې دي، خو کېدی شي د دې دومره مالګين والي حکمت داوي چې سمندرګی د سخت عذاب په پايله کې منځته شوی او د هغه نښې دي تر قيامته همدا پاته وي چې اوبه يې دومره مالګينې شوې چې دلته هيڅ ژوي او واښه پاته نه شي. ځکه په عام ډول د معذب قومونو سيمې د استوګنې ور نه وي. الله جل جلاله وايي:

{وَكَمْ أَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ بَطِرَتْ مَعِيشَتَهَا فَتِلْكَ مَسَاكِنُهُمْ لَمْ تُسْكَنْ مِنْ بَعْدِهِمْ إِلَّا قَلِيلًا وَكُنَّا نَحْنُ الْوَارِثِينَ} [القصص: ٥٨]

**۳**- بله دا چې الله **جل جلاله** وایي: {فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا} ښکاره ترجمه خو یې داده چې دا کلي مو پړمخې واړول، خو دا معنا هم کېدلی شي چې: د ځمکې لوړې برخې مو ټیټې وګرځولې.[1]

## (۳) بحیره طبریة:

ددې بحیرې عربي نوم (طبریة) د رومي سرلښکر (طیباریوس) له نوم نه اخیستل شوی، ځکه د هغه استوګنځای (طبریه ښار) د دې بحیرې په غاړه تر ټولو ستر ښار و.

او همدې بحیرې ته (بحیره جلیل) هم ویل کیږي ځکه د اردن سیند په شمالي برخه کې د (جلیل) او (ګولان) سیمو ترمنځ پرته ده، او په انګریزي کې یې همدا نوم (ګلیلي:Galilee) کارول کیږي. په (۱۹۲۴ز) کې اسرائیلو له دې بحیرې نهر وکندو، چې د اسرائیلو د خاورې ټولو برخو ته یې ورسولې، او همدارازیه غزه او لوېدیځه غاړه کې د فلسطینیانو ځینې ښارونو ته یې هم اوبه ورکړې خو کله چې یې خوښه شي اوبه پرې بندې کړي.

### ځانګړنې:

بحیره طبریه (۴۱) کیلومتره طول، (۱۷) کیلومتره عرض او (۴۲) متره عمق لري. د سمندر له سطحې دوه سوه دیارلس متره ټیټه ده. چې له بحر میت وروسته د نړۍ تر ټولو ټیټه نکته ګڼل کیږي. پخوا د اردن، فلسطین او سوریې تر ولکه لاندې وه، په (۱۹۲۷ز) د اسرائیلو او سوریې ترمنځ په جګړه کې اسرائیلو له لوري د ګولان د څوکو له نیولو وروسته د سوریې ولکه ختمه شوه.

### ارزښت:

په اسلامي رواتو کې هم د دې بحیرې یادونه شوې:

---

[1]- (جهان دیده:۲۰۸-۲۱۲)په لږ تعیر سره.

**لومړی**: د یاجوج او ماجوج د ډېروالي څرګندولو په هکله رسول الله صلی الله علیه وسلم وايي: د هغوي مخه به دې سمندرګي ته ورسي او به به وڅيښي او روستي ډله چې کله راځي وای دلته به هم يو وخت اوبه وې.

عَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ، قَالَ: قَالَ: رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَبْعَثُ اللهُ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ، وَهُمْ مِنْ كُلِّ حَدَبٍ يَنْسِلُونَ، فَيَمُرُّ أَوَائِلُهُمْ عَلَى بُحَيْرَةِ طَبَرِيَّةَ فَيَشْرَبُونَ مَا فِيهَا، وَيَمُرُّ آخِرُهُمْ فَيَقُولُونَ: لَقَدْ كَانَ بِهَذِهِ مَرَّةً مَاءٌ. (١)

**دویم**: تمیم داري رضی الله عنه وايي: دجال راته وويل: د بيسان د باغونو حال راکړئ، موږ وويل: د څه پوښتنه يې کوې؟ وېلې کجوري يې مېوه کوي؟ موږ وېل: هو. وېلې داسې وخت به راشي چې مېوه به نه کوي.

وېلې: د بحيره طبريه حال راکړئ، موږ وويل: د څه پوښتنې کوې؟ وېلې: اوبه په کې شته؟.موږ وېل: هو. وېلې ژر ده چې اوبه يې وچې شي.

وېلې: د عين زغر حال راکړئ، موږ وويل: د څه پوښتنې کوې؟ وېلې په چينه کې اوبه شته؟ او خلک کښت پرې کري؟ موږ وېل: هو ! اوبه يې ډېرې دي،او خلک هم کښتونه پرې خړوبه وي......

١١٩ - (٢٩٤٢) - ... عن فَاطِمَةَ بِنْتَ قَيْسٍ، أُخْتَ الضَّحَّاكِ بْنِ قَيْسٍ .... قالت:صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَكُنْتُ فِي صَفِّ النِّسَاءِ الَّتِي تَلِي ظُهُورَ الْقَوْمِ فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاتَهُ جَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ، وَهُوَ يَضْحَكُ، فَقَالَ: «لِيَلْزَمْ كُلُّ إِنْسَانٍ مُصَلَّاهُ»، ثُمَّ قَالَ: «أَتَدْرُونَ لِمَ جَمَعْتُكُمْ؟» قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: " إِنِّي وَاللهِ مَا جَمَعْتُكُمْ لِرَغْبَةٍ وَلَا لِرَهْبَةٍ، وَلَكِنْ جَمَعْتُكُمْ، لِأَنَّ تَمِيمًا الدَّارِيَّ كَانَ رَجُلًا نَصْرَانِيًّا، فَجَاءَ فَبَايَعَ وَأَسْلَمَ، وَحَدَّثَنِي حَدِيثًا وَافَقَ الَّذِي كُنْتُ أُحَدِّثُكُمْ عَنْ مَسِيحِ الدَّجَّالِ، حَدَّثَنِي أَنَّهُ رَكِبَ فِي سَفِينَةٍ بَحْرِيَّةٍ، مَعَ ثَلَاثِينَ رَجُلًا مِنْ لَخْمٍ وَجُذَامَ، فَلَعِبَ بِهِمِ الْمَوْجُ شَهْرًا فِي الْبَحْرِ، ثُمَّ أَرْفَئُوا إِلَى جَزِيرَةٍ فِي الْبَحْرِ حَتَّى مَغْرِبِ الشَّمْسِ، فَجَلَسُوا فِي أَقْرُبِ السَّفِينَةِ فَدَخَلُوا الْجَزِيرَةَ فَلَقِيَتْهُمْ دَابَّةٌ أَهْلَبُ كَثِيرُ الشَّعَرِ، لَا يَدْرُونَ مَا قُبُلُهُ مِنْ دُبُرِهِ، مِنْ كَثْرَةِ الشَّعَرِ، فَقَالُوا: وَيْلَكِ مَا أَنْتِ؟ فَقَالَتْ: أَنَا الْجَسَّاسَةُ، قَالُوا: وَمَا الْجَسَّاسَةُ؟ قَالَتْ: أَيُّهَا الْقَوْمُ انْطَلِقُوا إِلَى هَذَا الرَّجُلِ فِي الدَّيْرِ،

---

١- صحيح مسلم بَابُ ذِكْرِ الدَّجَّالِ وَصِفَتِهِ وَمَا مَعَهُ (٤/ ٢٢٥٤)رقم الحديث:٢٩٣٧.

فَإِنَّهُ إِلَى خَبَرِكُمْ بِالْأَشْوَاقِ، قَالَ: لَمَّا سَمَّتْ لَنَا رَجُلًا فَرِقْنَا مِنْهَا أَنْ تَكُونَ شَيْطَانَةً، قَالَ: فَانْطَلَقْنَا سِرَاعًا، حَتَّى دَخَلْنَا الدَّيْرَ، فَإِذَا فِيهِ أَعْظَمُ إِنْسَانٍ رَأَيْنَاهُ قَطُّ خَلْقًا، وَأَشَدُّهُ وِثَاقًا، مَجْمُوعَةٌ يَدَاهُ إِلَى عُنُقِهِ، مَا بَيْنَ رُكْبَتَيْهِ إِلَى كَعْبَيْهِ بِالْحَدِيدِ، قُلْنَا: وَيْلَكَ مَا أَنْتَ؟ قَالَ: قَدْ قَدَرْتُمْ عَلَى خَبَرِي، فَأَخْبِرُونِي مَا أَنْتُمْ؟ قَالُوا: نَحْنُ أُنَاسٌ مِنَ الْعَرَبِ رَكِبْنَا فِي سَفِينَةٍ بَحْرِيَّةٍ، فَصَادَفْنَا الْبَحْرَ حِينَ اغْتَلَمَ فَلَعِبَ بِنَا الْمَوْجُ شَهْرًا، ثُمَّ أَرْفَأْنَا إِلَى جَزِيرَتِكَ هَذِهِ، فَجَلَسْنَا فِي أَقْرُبِهَا، فَدَخَلْنَا الْجَزِيرَةَ، فَلَقِيَتْنَا دَابَّةٌ أَهْلَبُ كَثِيرُ الشَّعَرِ، لَا يُدْرَى مَا قُبُلُهُ مِنْ دُبُرِهِ مِنْ كَثْرَةِ الشَّعَرِ، فَقُلْنَا: وَيْلَكِ مَا أَنْتِ؟ فَقَالَتْ: أَنَا الْجَسَّاسَةُ، قُلْنَا: وَمَا الْجَسَّاسَةُ؟ قَالَتْ: اعْمِدُوا إِلَى هَذَا الرَّجُلِ فِي الدَّيْرِ، فَإِنَّهُ إِلَى خَبَرِكُمْ بِالْأَشْوَاقِ، فَأَقْبَلْنَا إِلَيْكَ سِرَاعًا، وَفَزِعْنَا مِنْهَا، وَلَمْ نَأْمَنْ أَنْ تَكُونَ شَيْطَانَةً، فَقَالَ: أَخْبِرُونِي عَنْ نَخْلِ بَيْسَانَ، قُلْنَا: عَنْ أَيِّ شَأْنِهَا تَسْتَخْبِرُ؟ قَالَ: أَسْأَلُكُمْ عَنْ نَخْلِهَا، هَلْ يُثْمِرُ؟ قُلْنَا لَهُ: نَعَمْ، قَالَ: أَمَا إِنَّهُ يُوشِكُ أَنْ لَا تُثْمِرَ، قَالَ: أَخْبِرُونِي عَنْ بُحَيْرَةِ الطَّبَرِيَّةِ، قُلْنَا: عَنْ أَيِّ شَأْنِهَا تَسْتَخْبِرُ؟ قَالَ: هَلْ فِيهَا مَاءٌ؟ قَالُوا: هِيَ كَثِيرَةُ الْمَاءِ، قَالَ: أَمَا إِنَّ مَاءَهَا يُوشِكُ أَنْ يَذْهَبَ، قَالَ: أَخْبِرُونِي عَنْ عَيْنِ زُغَرَ، قَالُوا: عَنْ أَيِّ شَأْنِهَا تَسْتَخْبِرُ؟ قَالَ: هَلْ فِي الْعَيْنِ مَاءٌ؟ وَهَلْ يَزْرَعُ أَهْلُهَا بِمَاءِ الْعَيْنِ؟ قُلْنَا لَهُ: نَعَمْ، هِيَ كَثِيرَةُ الْمَاءِ، وَأَهْلُهَا يَزْرَعُونَ مِنْ مَائِهَا، قَالَ: أَخْبِرُونِي عَنْ نَبِيِّ الْأُمِّيِّينَ مَا فَعَلَ؟ قَالُوا: قَدْ خَرَجَ مِنْ مَكَّةَ وَنَزَلَ يَثْرِبَ، قَالَ: أَقَاتَلَهُ الْعَرَبُ؟ قُلْنَا: نَعَمْ، قَالَ: كَيْفَ صَنَعَ بِهِمْ؟ فَأَخْبَرْنَاهُ أَنَّهُ قَدْ ظَهَرَ عَلَى مَنْ يَلِيهِ مِنَ الْعَرَبِ وَأَطَاعُوهُ، قَالَ لَهُمْ: قَدْ كَانَ ذَلِكَ؟ قُلْنَا: نَعَمْ، قَالَ: أَمَا إِنَّ ذَاكَ خَيْرٌ لَهُمْ أَنْ يُطِيعُوهُ، وَإِنِّي مُخْبِرُكُمْ عَنِّي، إِنِّي أَنَا الْمَسِيحُ، وَإِنِّي أُوشِكُ أَنْ يُؤْذَنَ لِي فِي الْخُرُوجِ، فَأَخْرُجَ فَأَسِيرَ فِي الْأَرْضِ فَلَا أَدَعَ قَرْيَةً إِلَّا هَبَطْتُهَا فِي أَرْبَعِينَ لَيْلَةً غَيْرَ مَكَّةَ وَطَيْبَةَ، فَهُمَا مُحَرَّمَتَانِ عَلَيَّ كِلْتَاهُمَا، كُلَّمَا أَرَدْتُ أَنْ أَدْخُلَ وَاحِدَةً - أَوْ وَاحِدًا - مِنْهُمَا اسْتَقْبَلَنِي مَلَكٌ بِيَدِهِ السَّيْفُ صَلْتًا، يَصُدُّنِي عَنْهَا، وَإِنَّ عَلَى كُلِّ نَقْبٍ مِنْهَا مَلَائِكَةً يَحْرُسُونَهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَطَعَنَ بِمِخْصَرَتِهِ فِي الْمِنْبَرِ: «هَذِهِ طَيْبَةُ، هَذِهِ طَيْبَةُ، هَذِهِ طَيْبَةُ» - يَعْنِي الْمَدِينَةَ - «أَلَا هَلْ كُنْتُ حَدَّثْتُكُمْ ذَلِكَ؟» فَقَالَ النَّاسُ: نَعَمْ، «فَإِنَّهُ أَعْجَبَنِي حَدِيثُ تَمِيمٍ، أَنَّهُ وَافَقَ الَّذِي كُنْتُ أُحَدِّثُكُمْ عَنْهُ، وَعَنِ الْمَدِينَةِ وَمَكَّةَ، أَلَا إِنَّهُ فِي بَحْرِ الشَّأْمِ، أَوْ بَحْرِ الْيَمَنِ، لَا بَلْ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ مَا هُوَ، مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ مَا هُوَ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ، مَا هُوَ» وَأَوْمَأَ بِيَدِهِ إِلَى الْمَشْرِقِ، قَالَتْ: فَحَفِظْتُ هَذَا مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (١)

**تشريح**:

**د تميم الداري رضی الله تعالی عنه په دې حديث کې د څلور ځايونو يادونه شوې:**

**١- د دجال د استوګنځي يادونه شوې، چې ځينې يې په برمودا مثلث، يا ډريګن مثلث کې ګڼي، او ځيني نور بيا توقف کوي.**

**٢- د بحيره طبريه يادونه شوې، چې دلته يې بيان وشو.**

---

١- صحيح مسلم (٤/ ٢٢٦٣) باب قصة الجساسة ،رقم الحديث (٢٩٤٢).

**۳**-د بیسان باغونو یادونه شوې.

بیسان د فلسطین په خاوره کې د کلي نوم دی چې له بیت المقدس نه یوسل اوویشت(**۱۲۷**) کیلومتره شمال ختیځ کې د اردن سیند لویدیځ ته په شپږ کیلومترۍ کې د جالوت نهر په جنوبي غاړه پروت دی، یا په بله ژبه له بحیره طبریه نه چې د اردن سیند به لوېدیځه غاړه د شمال لورته ځې، له لږ سفر وروسته همدې سیند ته نهر جالوت راګډیږي، بس د اردن سیند له غاړې شپږ کیلومتره لرې د نهر جالوت په جنوبي غاړه پروت کلی دی، ویل کیږي په(**۱۹۴۹**ز) کې دا کلی له یوې مخې وران شو او پر ځای یې (بیت شان) کلی ودان شوی، نو کیدی شي چې د دجال د پېشین ګویي (باغونه به یې مېوه نه کوي) همدا مصداق وي.

**یادونه**: د په مدینه منوره کې هم د خیبر لورته یوه سیمه د "بیسان" په نوم یادیږي، چې د مالګینو اوبو ځاه په کې و، رسول الله صلی الله علیه وسلم "نعمان" نومولی، طلحه بن عبید الله رضی الله عنه واخیست او بیا یې وقف کړ، له همدې امله طلحه رضی الله عنه ته "طلحة الفیاض" ویل شوي.

نو کیدی شي چې دا یې مصداق وي، خو ډېری علماء لومړۍ خبره غوره ګڼي.

**۴**- د عین "زغر" یادونه شوې چې د بحر میت جنوب ته د یوې چینې نوم دی چې نن سبا د اسرائیلو په خاوره کې راځي، او دلته پراته کلي ته هم (عین زغر) وایي.

"زغر" اصل کې د حضرت لوط علیه السلام السلام د لور نوم دی ، چې د همدې چینې خواته یې قبر او دلته خښه شوې ده، او دویمه لور یې (ربه) نومېده هغه هم د یوې بلې چینې خواته خښه ده چې هغې ته اوس (عین ربه) وایي.

و الله اعلم.

## (۵) **کاسپین سمندرگی**.

کاسپین یا قزوین سمندرکۍ په آسیا کې د ایران، ترکمستان ، قزاقستان، چیچنیا،او ادزبائجان ترمنځ پروت دی، د همدې سمندرګي د اهمیت او ارزښت ددې لامل دی چې د روسي ښکېلاک له درې ورې کېدلو وروسته هم ښکیلاګر ځواکونه له چیچن څخه نه پرشا کیږي.

## (۶) **بحر اسود**.

تور سمندرګی د آسیا او اروپا ترمنځ د قفقاز غرونو په لوېدیځ کې موقعیت لري دغه سمندرګي روسیې،رومانیا ، بلغاریا ، اوکراین، ګرجستان د مدیترانې د سمندرګي له لارې د اطلس له سمندر سره نښلوی. تورسمندرګي په شمال کې (کرچ) تنګي په واسطه د (آزوف سیند ) سره یو ځای کیږي، او په جنوب لویدیځه برخه کې د (پاسفورس) تنګي په واسطه له مرمر سمندرګي سره یو ځای کیږي.

ټوله مساحت یې (۴۲۰۰۰۰ ) مربع کیلومتره دی،ژوروالی یې:دوه زره دوه سوه لس(۲۲۱۰ ) متره ته رسیږي. اوږدوالی یې یوولس سوه اته څلوېښت (۱۱۴۸) کیلومتره دی، او سوریې شپږ سوه پنځلس(**۷۱۵** ) کیلومتره دی.

## (۷) **بحر مرمره**.

په ترکیه کې د استنبول ښار په منځ کې پروت او دا ښار یې په دوه برخو(آسیایي، او اروپایي )وېشلی،مساحت یې یولس زره، درې سوه پنځوس (**۱۱۳۵۰** )کیلومتره مربع اټکل شوی، اوږدوالی یې:دوه سوه پنځویشت (**۲۲۵** )کیلومتره او عرض یې پنځه شپېته(**۶۵**) کیلومتره ته

رسیږي، او په مینځ کې واړه واړه ټاپوګان هم لري چې یو یې (مرمره) نومی ټاپو دی او له همدې امله دې سمندرګي ته (بحر مرمره) وایي.

شمال ته له بحر اسود سره په (پاسفورس) تنګي تړل شوي، او جنوب ته له مدیترانې سره په (دردنیل)تنګي تړل سوي.

## ۸) بحیره وکټوریه.

بحیره وکټوریه په افریقا کې د دریو هیوادنو (تنزانیا،رواندا، یوګنډا او کینیا) په سرحدونو کې موقعیت لري، خو ولکه وربانديې د (تنزانیا، یوګنډا او کینیا )ده او (رواندا) ته په کې برخه نه ده ورکړل شوې، ځکه کمزوری تل په خپل کور کې وږی پاته وي او همدا سمندرګی د رود نیل د اوږدې څانګې (نیل ابیض) سرچینه شمېرله کیږي.

ټول مساحت یې (۸۰۰۲۸) مربع کیلومتره دی، ژوروالی یې(۸۴) متره،او ټول ساحل یې (۴۰۰۳) کیلومتره دی، د سمندر له سطحې (۱۱۳۵) متره جګوالی لري، د دې هیوادونو ترمنځ د بحري سفرونو یواځنۍ لاره همدا ده، او د (۱۹۹۲ز) مئ په (۲۱) یوه مسافر وړونکې بېړۍ په کې ډوبه شوه چې تر زرو زیات کسان په کې ووژل شول.

په دې سمندرګي کې تر درې زره پورې واړه، واړه ټاپوګان دي چې ډېری یې غیرآباد دي، خو ځیني یې آباد او په افریقا کې د سیاحت له پاره غوره ځایونه ګڼل کیږي.

**نوم یې**: وکټوریه په اصل کې د برطانوي امپراطوري د یوې ملکې نوم دی دې سمندرګي ته ځکه بحره وکټوریه وایي چې په (۱۸۵۸ز) کې یو انګرد رودنیل د مبدأ یا سرچینې په لټه روان شو

کله چې دې بحرې ته ورسېد نو ورته ځرګنده شوه چې همدا سمندرګی د نیل اصل سرچینه ده، او بیا یې د وخت د ملکې په نوم ونوموله.

خو حقیقت دادی چې تر دې په سلهاوو کلونه وړاندې (په ۱۱۶۰ز) مسلمان هیئت پوه الادریسي رحمه الله په خپله نقشه کې ددې یادونه کړې چې نیل دریاب له یوې سترې بحېرې یا سمندرګي څخه سرچینه اخلي.

## (۹) **بحیره وان**.

په ترکیه کې موقعیت لري، طول یې: (۱۲۰)، عرض یې: (۸۰) کیلومتره دی او عمق یې:(**۴۵۷**) متره اټکل شوی، ټول مساحت یې (**۷۵۵۳**) مربع کېلومتره دی، او د سمندر له سطحې (**۱۷۱۹**) متره لوړه ده.

ددې سمندرګي په شمال کې پروت ښار(ملاز کرد) هغه ښار دی چې په (۱۰۷۱ز) کې د سلجوقي پاچا الپ ارسلان او رومي واکمن ځلورم مانوس ترمنځ نښته وشوه، رومیان مات شول او د تل له پاره یې د اوسنۍ ترکیې یا شرقي روم له خاورې ټغر ټول شو.

# (۱۰) بحر احمر (بحر قلزوم)

بحر قلزوم په اصل کې یو ډول خلیج ده چې له بحر هند څخه را بېل شوی، د افریقا او آسیا ترمنځ د بېلتون کرښه شمېرله کیږي. دا خلیج څلور برخې لري:

**لومړۍ برخه**: یې تر(باب المندب نومي تنګي) پورې (خلیج عدن) نومیږي.

**دویمه برخه**: له باب المندب څخه د سینا ټاپو وزمې تر څوکې پورې یې (بحر قلزوم) بولي.

**درېمه برخه**: د سینا ختیځ لور ته ښاخ یې (خلیج عقبه).

**څلورمه برخه**: د سینا لوېدیځ لور ته ښاخ یې ( خلیج سویز ) بلل کیږي.

دلته یې موږ له دویمې برخې(بحر قلزم) نه بحث کوو.

ټوله مساحت یې څلور لکه اته څلو ېښت زره (۴۳۸۰۰۰ ) مربع کیلومتره دی، اوږوالی یې دوه زره دوه سوه پنځوس (۲۲۵۰ ) کیلومتره، او تر ټولو زیات وسور یې درې سوه اته نوي (۳۹۸) کیلومتره دی، منځنی سور یې دوه سوه اتیا(۲۸۰ ) کیلومتره او تر ټولو کم وسور(عرض) یې (د باب المندب په سیمه کې) نویشت(۲۹ ) کیلومتره دی،تر ټولو

| قیاسات | |
|---|---|
| المساحة | ۴۳۸،۰۰۰کم۲ |
| طول | ۲،۲۵۰کم |
| اقصی عرض | ۳۳۵کم |
| متوسط عرض | ۲۸۰کم |
| ادنی عرض | ۲۹کم |
| اقصی عمق | ۲،۲۱۱م |
| متوسط العمق | ۴۹۰م |
| حجم | ۲۵۱،۰۰۰کم۳ |



ژوره کنده يې دوه زره دوه سوه يوولس (۲۲۱۱ ) متره ژوروالی لري، او په منځني ډول يې ژوروالي څلورسوه نوي(۴۹۰ ) متره اټکل شوی دی.

**ارزښت**:

سويس کانال له کندلو وروسته په نړۍ کې د بحري سفرونو له پاره تر ټولو ارزښتناکه لاره ده.

او په اسلامي تاريخ کې يې هم لوی نوم لرلی، صحابه کرام حبشې ته د هجرت په مهال له همدې سمندرګي څخه تېر شوي او اوسنۍ ايتوپيا(حبشې ) ته تللي ول.

موسی عليه السلام په همدې درياب تېر او د فرعون لښکر په کې غرق شو.

# اووم فصل:

## خليجونه

### ۱. خليج عدن

له بحر هند څخه تر باب المندب نومي تنګي پورې د اوبو برخې ته خليج عدن وايي.




### ۲. خليج عقبه:

خليج عقبه د بحر احمر هغه څانګه ده چې د سينا ټاپووزمې ختيځ لورته غځېدلې، يوسل شپېته کيلومتره اوږوالي، څليرويشت کلومتره سور لري، منځنى ژوروالى يې د يو کيلومتر په شاوخوا کې دى، او تر ټولو ژوره سيمه يې نږده دوه کيلومتره ژوروالى لري.

دا هغه درياب دى چې بين اسرائيل (اصحاب السبت)په کې د هفتې په ورځ له ماهي نيولو منعه شوى وو، د هغوى (ايله) نومى ښار د همدې خليج په څوکه پروت دى.

### ۳. خلیج سویس:

خلیج سویس(۱) د بحر قلزوم لوېدیځه څانګه ده چې د سینا له ځوکې تر سویز نومي ښار پورې غځېدلې ده، درې سوه څورلس (۳۱۴) کیلومتره اوږدوالي، دوه دېرش کیلومتره سور لري، تر ټولو ژوره کنده یې شپېته متره، او لږ ژوروالی یې دولس (۱۲) متره اټکل شوی.

### ۴. خلیج عمان، خلیج فارس، خلیج عرب.




خلیج عمان هم له بحر هند څخه رابېل شوی او دوه برخې لري یوه برخه یې د عمان له ځوکې تر هرمز تنګي پورې ده چې ختیځ ته یې ایران، او لوېدیځ ته یې عمان پروت دی، دې برخې ته (خلیج عمان) وایي.

د هرمز له تیګي ورآخوا برخه چې ختیځ ته یې ایران او لوېدیځ ته یې د جزیرة العرب ډېری هیوادونه (عرب امارات، سعودي، قطر، بحرین، کویت، او عراق پوله لري دې برخې ته یې ایرانیان (خلیج فارس) وایي. او عربان یې (خلیج عرب) ګڼي.

تر (۱۹۲۰ز) پورې (خلیج عرب) د بحر قلزوم دویم نوم و، او دې خلیج ته خلیج فارس ویل کېدل، له دې نېټې را په دې خوا عربانو (خلیج فارس) ته د (خلیج عرب) نوم ورکړ، چې اوسنۍ عربي او عربي میډیا یې ټول په همدې نوم یادوي، دا ځکه چې دا مهال په عربي نړۍ کې د ایران په نسبت د غرب ګټې خوندي دي، او د هغوی به

---

۱- سویز توری دوه ډوله تلفظ کیږي، عربان یې (سویس) او پښتانه یا اوردي ژبي لیکوالان یې (سویز) بولي، تر څو یې د اروپا له (سویس) نومي هیواد سره توپیر وشي. ابوسعید.

تېلو ، هوايي اډو ، او اوبو کې عربيان په خلاص مټ لاسو هنه کولی شي، او دا هغه اوبه دي چې اکثره د ايران او امريکا جنګي بېړۍ يوبل په کې مخامخ کيږي.

ياد خليج نه سوه نه اتيا کيلومتره اوږوالی لري، او تر ټولو کم سور يې (د هرمز تنګی) شپږپنځوس کيلومتره دی. د نوي او پنځوس متره ترمنځ ژوروالی لري.د ټولې نړۍ د تېلو لويه برخه له همدې لارې د نړۍ ګوټ ګوټ ته ځي.

**يادونه**:

د موږ تاسو وليدل چې د جزيرة العرب ختيځ او لوېديځ ته يو خليج غځېدلی، خو د لويځ لورته(د قلزوم په غاړه ) په جزيرة العرب کې کوم تقسيم نه دی شوي يو اځې يمن ترې بېل شوی، او د ختيځ لور ته ( د خليج فارس ) په غاړه له سعودي څخه پنځه ټوټې( عمان، عربي امارات،بحرين، قطر، او کوېټ) بېل شوي دا ولې؟ ايا د ختيځ عرب يې ډېر هوښيار، پرمخ تللي، او ازادي غوښتونکي دي او د لويځ هغه يې ويده، بې ضميره او بې احساسه دي؟؟؟ که کومه بله وجه ده؟.

ددې پوښتنې ځواب کې بايد ووايو: چې د تقسيم اصل لامل دادی چې د سعودي عرب ختيځه برخه د تېلو ، غازو ، سرو او سپينو بډايه سيمه ده،او همدې سيمې ته په خوا (الارض الدهناء غوړينه سيمه ) وېل کېدل، نو ځکه غربيانو په دې سيمه کې خلک بېلتون او ظاهري استقلال (په حقيقت کې د غرب د غلامي ) ته هڅه ولي، تر څو دا واړه، واړه هيوادونه د غرب فوجي مرستې اړوي او هغوی يې په قدرتي شتمني واکمن وي.

او د جزيرة العرب لويديځې خواته هيڅ معدنيات نشته نو ځکه هغوی يې د بېلتون هڅه نه ده کړې، يو اځې باب المندب مهمه نکته ده د هغې له پاره يې شرقي خواته يمن له سعودي ببل کړی، او غربي خواته يې جبوتي نومی وړکی هيواد له ايتوپيا(حبشې ) څخه بېل کړی،ترڅو په دې دروازه د هغوی واکمني وي.

# اتــم فصل:

### د انسانانو په لاس کندل شوي مهم نهرونه (کانالونه)

هسې خو ډېر نهرونه د ځمکې په مخ کندل شوي چې له يوې سيمې بلې ته اوبه ولېږدوي خو موږ يوازې هغه نهرونه ياوو چې اوبه له ابو سره نښلوي او د سمندري لېږ او سفر له پاره مهم وي.




دا دوول نهرونه درې دي : سويز، پانامه، او کيل کانالونه:

**لومړي: سويس: کانال**:

د آسيا او افريقا ترمنځ د مصر په خاوره کې کندل شوی، چې د سينا ټاپوزمه له مصر څخه بېلوي او مديترانه او بحر احمر سره نښلوي.

سويز کانال چې په (۱۸۵۹ز) کې يې د کندلو کار د فرانسويانو له لوري پيل شوی و په (۱۸۶۹ز) کې د اسماعيل خدوی په سلطنت کې پای ته ورسېد ، دا کانال د بحر متوسط په غاړه له(بورسعيد ) نومي ښار څخه پيل، په اسماعيليه ښار تېر له سويس ښار سره بحر احمر ته تويېږي.

د دې نهر به اږدو کې درې وړې بحېرې راځي:لومړی تمساح، له اسماعليه ښار سره ، دويمه بحيره مره کبری، او ورپسې مره صغری چې دا درې واړهه د اسماعيليه او سويس ښارونو ترمنځ پرتې دي.

**ځانګړتیاوې:**

سویس کانال یوسل دوه نوي (۱۹۲) کیلومتره اوږوالي، او درې سوه(۳۰۰ ) متره سور لري.

له کندلو وروسته د مصر واکمن اسماعیل خدوي چې په همدې شپو وروځو کې له یوې خوا غوښتل له عثماني خلافت څخه استقلال اعلان کړي، له بلې خوا له اقتصادي ستونزو سره مخ و، نو له همدې امله یې د سویس کانال حق العبور چارو واکې فرنسویانو ته د پیسو په بدل کې وسپارلې، چې له امله یې تر ډېرې مودې دا کانال د فرانسویانو، برطانویانو او امریکایانو په ولکه کې و، هغه مهال هم سید جمال الدین افغان چې په مصر کې یې د جلاوطنۍ شپې ورځې تېرولې خدوي ته ډېرې زارۍ وکړې چې له خلافت نه استقلال اعلان نه کړي، او نه دې سویس کانال فرانسویانو ته سپاري، ځکه په دې ډول به د تل له پاره د اروپایانو لاس افریقا ته را اوږد شي خو هغه ونه منله.

بیا د جمال عبد الناصر په هڅو یې نیمه تصرف یا د اجاره اخیستلو حق بېرته مصر ته وسپارل شو، خو له اجازې پرته له دې کانال څخه تېرېدل اوس هم د غرب بیا په تېره امریکا په واک کې دي.

او ارزښت:


د دې نهر تر کندلو وړاندې که به کوم بحري بېړۍ له اروپا ،او یا مدې ترانې څخه آسیا ته تللی نو په ټوله افریقا به شاوخوا را تاوېدله خو کله چې د سویس (۱۹۲) کیلومتره نهر وکندل شوی نو خلک د افریقا له چکر څخه خلاص او دا لاره څلور زره (۴۰۰۰ ) کیلومتره رالنډه شوه.

او په (۲۰۱۵ز ) کې د مصر اوسني واکمن جنرال سیسي د همدې نهر یوه بله پله جوړول هم اعلان کړل او د دې کار پلان داسې و چې باید په دریو کلونو کې جوړ شي، خو سیسي په یوه کال کې د

جوړولو امر کړی، او په دې سره به د سویز کانال دوه اخیز شی او په یوه وخت کې به له دواړه لورو بېړۍ تګ راتګ کولی شي.

**دویم: پانامه کانال:**

پانامه کانال په منځنۍ امریکا کې واقع او دوه ستر سیندونه (بحر اقیانوس او بحر الکاهل)




سره نښلوي، اوږوالی یې اوه اویا (۷۷) کیلومتره، او سور یې اویا(۷۰) متره دی، د سویس کانال د کندلو له بشپړېدلو نږدې یوولس کاله وروسته په کال اتلس سوه اتیا زیږدیځ(۱۸۸۰ز) کې د کولمبیا حکومت چې هغه مهال یې پانامه نومې سیمه د خاوري یوه برخه وه له فرانسویانو وغوښتل چې که دا نهر وکندي نو اته نوي(۹۸) کاله به یې ګټه د دوی وي، د هغوی له غوښتنې سره سم فرانسویانو د پانامه کانال د کندلو کار پیل کړ، اوولس زره (۱۷۰۰۰) کارکوونکي په ورځني ډول په کې مصروف وو، خو د ملیریا، تور ژړي، او زیاتو اوربښتونو له امله ډېر خلک وژل شول او (۹) کاله وروسته دا پروژه ناکامه شوه.

بیا په نولس سوه څلور(۱۹۰۴ز) کې پانامه له کولمبیا څخه ازادي ترلاسه کړه او په نولس سوه شپږ(۱۹۰۶ز) کې یې له امریکا سره د دې پروژې تړون وکړ چې تر(۱۹۹۹ز) پوري به یې ګټه د هغوی وي، امریکا هم د کمېشن په بدل کې دې درانده پېټې ته اوږه ورکړه، خو د فرانسویانو له ناکامې

تجربې څخه امریکایانو ته څرګنده شوه چې دلته نهر یا کانال کندل اسانه کار نه دی، نو ځکه یې پلان داسې جوړ کړ چې دلته نهر نه بلکې مصنوعي سمندرګی (جهیل) جوړ کړي، هغه و چې یوه ستره کنده یې وکندله او د په دې سیمه کې طبعي سمدرګي اوبه یې ورته راماتې کړي. دا چارې په (۱۹۱۴ز) کې بشپړې شوې، او ګټې اخیستنې وته وړاندې شو، تر (۱۹۹۹ز) پورې یې ګټه امریکا ترلاسه کوله. د یوې بېړۍ حق العبور (۲۰۰۰۰۰)ډالره دی. او هره ورځ نږدې څلو ېښت بېړۍ له دې کانال څخه تېرېږي.

**ستونزې**:

د پانامه کانال کندلو په مهال نږدې (۲۷۲۰۰) سوه کسان وژل شوي چې (۲۲۰۰۰) زره یې فرانسوي مزدوران، او پاته(۵۲۰۰) یې د امریکا د ترون په مهال وژل شوي.

څرنګوالی: لکه چې وموویل پانامه کانال په حقیقت کې نهر نه بلکې یو ډول اړد جهیل ده دا ځکه چې نهر هغه وي چې اوبه په کې له یوه ځایه بل ته بهیږي، خو په دې نهر کې اوبه بهاندې نه بلکې ولاړې وي، او دا ځکه چې د نهر کندلو سیمه د سمندر له سطحې (۲۶) متره لوړه او دومره ژور نهر ایستل اسانه کار نه ده او همدا لامل و چې فرنسویانو یې په کندلو کې ناکامه شول، اوس پوښتنه دا ده چې که کومه بېړۍ په بحرالکاهل کې وي هغه څه ډول دومره را پورته کړل شي چې دې نهر ته دننه شي، او همدا راز که په نهر کې روانه شي نو بل لور ته به بحر اطلس ته څنګه ورکوزیږي، ددې له پاره امریکایانو داسې پلان جوړ کړ چې نهر نه بلکې یوه کنده وکاږي دواړه سرونه یې بند وي له ابو یې ډکه کړي او د نهر کار ترې واخلي.

هغه داسې چې د نهر په دواړه خولو کې د سمندر په غاړه دوه ستر سېمټي تالابونه جوړ دي، د سمندر او نهر دواړو لور ته سترې دروازې لري،ددې تالابونو په منځ سترې بحري بېړۍ کانال ته راپورته کوي او یا یې سمندر ته کوزوي.

هغه داسې چې کله بېړۍ په سمندر کې د تالاب دروازې ته راشي دروازه خلاصه کړي بېړۍ تالاب ته دننه شي، اوس دروازه کلکه بنده کړي او د سترو ماشینونو له لارې تالاب ته اوبه راخوشې کړي دومره یې ډک کړي چې اوبه یې د نهر له سطحې سره برابرې شي ، اوس د نهر لور ته دروازه خلاصه کړي بېړۍ په نهر کې روانه شي، هغه بل لور ته چې ورشي تالاب همداسې ډک کله چې د نهر له لوري دروازه یې خلاصه کړي بېړۍ تالاب ته دننه شي اوس نو د نهر لورته دروازه کلکه بنده کړي د سمدر لورته وکړل شوي پیپونه خلاص کړي، کله چې د تالاب اوبه د سمندر سطحې ته ټیټې، او ورسره برابرې شي د سمندر لور دروازه خلاصه کړي او بېړۍ په سمندر کې روانه شي. او له دې کانال څخه یو اځې په (۹ ) ساعته کې تېریږي.

دا کانال که په بشپړ ډول نهر وای نو تر دې به هم په لږ وخت کې بېړۍ ترې تېرېدلی،خو دې نهر ته د بېړۍ ننه ایستل هم وخت اخلي نو ځکه یې دومره وخت تیریږي. او دا چاره یو عجیبه کیسه او په لیدلو ارزي.

مولا نا تقي صیب وایي: زه خپله ددې نظارې لیدلو ته ورغلی وم، په سمندر کې بېړۍ راغله د تالاب دروازې ورته خلاصې شوې بېړۍ تالاب ته دننه شوه په نیم ساعت کې تالاب ډک او بېړۍ په نهر کې روانه شوه. (سفر درسفر )

**گــټې**:

ددې کانال تر کندلو وړاندې که يوه بېړۍ د امريکا له نيويارک ايالت څخه فرانسسکو ايالت ته تللی نو په ټوله جنوبي امريکا به راتاوېدله او له (۲۲) زره (۵۰۰) سوه کيلومتره سفر وروسته به يوه مياشت بعد فرانسسکو ايالت ته رارسېدله او د (۲۲) زره (۵۰۰) سوه او اوس دا اوږ سفر ورته په (۹) زره (۵۰۰) سوه کيلومتره بدل شو.

**دريــــم کانال**: **کيل**:




د انسانانو په لاس کندل شوی دا کانال د جرمني به خاوره کې موقعيت لري، په (۱۸۸۷ز) کې يې د کندلو کار پيل شوی او په (۱۸۹۵ز) کې پای ته ورسېد، بحيره بالتيک، او بحيره شمالي سره نښلوي. (۹۸) کيلومتره اوږ والی لري، په لومړيو کې يې (۴۲) متره سور، او په منځني ډول (۳) متره ژور والی لاره، چې يواځې د (۳۰۰) وزن لرونکي بېړيو د تېرېدلو جوګه و، بيا وروسته يې سور تر (۱۰۲-۱۲۰) متره پورې او ژور والی (۱۱) متره ته لوړ شو چې اوس نږدې د هر ډول بيړيو تېرېلو جوګه دی. د دې نهر يا کانال له برکته (۸۴۰) کيلومتره اږده لاره (۹۸) کيلومتره ته رالنډه شوه، تر دې وړاندې که به يوه بېړۍ له بالتيک سمندر ګي، شمالي سمندرګي ته راتله نو د ډنمارک نومي هيواد شاوخوا به راتاوېدله، خو اوس له دې ستونزې خلاص شول.

# نهــم فصل

## سمندري لارې يا (تنګي)

د دوه وچو ترمنځ د اوبلارې نرۍ برخې ته تنګی یا (سمندري دره) وايي. او دا تنګی په حقيقت کې يوې دروازې حيثيت لري، چې له دې پرته سمندري سفرونه ستونزمن او يا هم ناشوني وي، د بېلګې په ډول که موږ غواړو ترکيې ته يوه سمندري بېړۍ ولېږو نو که څوک د جبل الطارق له تنګي، او يا هم د سويس کانال له لارې اجازه رانه کړي موږ نه شو کولی چې خپلې موخې ته ورسيږو.

او نن سبا خو نه يوازې معيشت او اقتصاد بلکې سياست هم تر يو څو تنګيو يا سمندري درو راڅرخي، نو ځکه د دې درو په هکله معلومات تر لاسه کول اړين او ضروري دي.

هسې خو به د ځمکې په مخ ډېر تنګي وي خو موږ يوازې د اته (۸) تنګيو يادونه کوو چې په اوسني سياست کې زيات رول او د تجارت په ډګر کې ارزښت لري ، چې نومونه يې په لاندې ډول دي:

۱. هرمز تنګی.
۲. باب المندب.
۳. جبل الطارق.
۴. فاسفورس تنګی.
۵. در دنيل( دره دانيال ) تنګی.
۶. ملاکا تنګی.
۷. ډور تنګی.
۸. بېرنګ تنګی.

# تفصيل

## ۱. د هرمز تنگی

هرمز تنگی (یا مضیق هرمز) د خلیج عمان او خلیج فارس ترمنځ یوه د دروازه ده چې په شمال او ختیځ یې د ایران، او په جنوب او لوېدیځ یې د متحده عرب امارات او عمان واکمن دي، تر ټولو کم سور یې (۲۱) میله دی. او د عراق، کویت ، قطر، او ایران د شمالي برخو د تېلو یوازنۍ لاره ده، او وېل کیږي چې په ورځني ډول د ټولې د تېلو پنځمه برخه له همدې تنگي څخه تېریږي.

او یوازې د همدې سیمې د تېلو بیې او د تنگي حق العبور که د مسلمانانو په خوښه وټاکل شي نو په اسلامي نړۍ کې د غربت پنځوس سلنه ستونزې به له منځه یوسي، او د مسلمانانو د احتیاج خبره به سرچپه شي، ددې په ځای چې مسلمانان محتاج وي کفار به ورته د احتیاج لاس نیسي. خو متأسفانه چې د تجارت دغه خدایي سرچینه او په اوسني وخت کې د زور او قوت محور چې الله جل جلاله مسلمانانو ته ورپه برخه کړی، هغوی د خپلمنځي اختلافونو له امله د کفارو په واک کې ورکړه.

وېل کیږي چې له سعودي څخه متحده عرب اماراتو د بېلولو ستر لامل همدا د هرمز تنگی دی، تر څو په دې سیمه یو کمزوری کوربه پیدا شي، او تل یې د خپل کور ساتلو له پاره یوه زورو ته اړتیاوي، چې په دې ډول به غرب ته زمینه برابره شي چې په احسان اچوونکي ډول دا تنگی په خپل واک کې وساتي.

او همدا راز په دې سیمه پراته واړه هیوادونه (بحرین، قطر، کویت) یې د تېل له امله را بېل کړي، او بیا یې دوی ساتنه کوي، تر څو د ساتنې په بدل کې ښې ډېرې روپۍ هم واخلي، او د تېلو زېرمې یې هم په واک کې پاته شي.

## ۲. باب المندب.

د آسیا او افریقا ترمنځ غځېدلي درياب قلزم او خليج عدن سره تړي، تر ټولو کم سور يې (۲۰) میله دی، د ابو په منځ کې د يوې (پیرم ) نومې وړې جزيرې له امله دا دروازه دوه څانګې لري، یوه ختيځه څانګه يې (باب اسکندر) چې دوه میله سور، لو (۳۰) متره ژوروالی لري، او لوېديځه څانګه يې (۱۲) میله سور، او (۳۱۰) متره ژوروالی لري.

او په دې سیمه د واک ساتلو له پاره يې د تنګي په لويځ لوري کې د "جبوتي" په نوم وړوکی هیواد د خپلو اکي ملاتړ وکړ تر څو يې بيا هغوی له ليوانو وساتي، او خپله ورته چاړه تېره ولري.

## ۳. جبل الطارق:


جبل الطارق تنګی بحر اقیانوس یا بحر ظلمات له مديترانه سمندرګي سره نښلوي، شمال ته يې د اندلس( اوسنی اسپانيا ) او جنوب ته يې مراکش هیوادونه پراته دي، سور يې (۱۴) کیلو متره او ژوروالی يې (۳۰۰) متره دی، د اسلامي نړۍ ډېری تېل او نور معدنيات له همدې لارې غرب بیا په تېره امریکا ته ځي.

(جبل الطارق) يې ځکه بولي چې په (۷۱۱ز) کې د اموي سرلښکر طارق بن زیاد له همدې لارې اندلس فتح کړی، او دا تنګی د مسلمانانو په خاوره کې و، یوه لورته يې اندلس او بل لور ته يې المغرب هیوادونه پراته ول، خو اوس يې واک له پردو سره دی.

انګرېزان چې نږدې په ټوله نړۍ يې واکمني وه د خپلې امپراتورۍ تر ړنګېدلو وروسته له دې سیمې ووتل خو د دې ځای ارزښت ته په پام سره يې (جبل الطارق ) تنګی خوشی نه کړ بلکې اوس هم یوه وړه سیمه د برتانیا برخه ګڼل کيږي او هغوي په دې تنګي واکمن دي.

باب المندب او جبل الطارق په نړۍ کې تر ټولو مصروفه دروازې دي، بلکې وېلی شو چې د ټولې نړۍ د بحري سفرونو له پاره همدا يو ځنی لاره ده. چې په يوه سر کې باب المندب او په بل کې يې جبل الطارق د دروازو په څېر دي.

## ۴. پاسفورس تنګی:




پاسفورس تنګی د ترکيې په خاوره کې موقعيت لري، د استانبول (قسطنطنيه) ښار يې په دوه (آسيايي، او اروپايي) برخو وېشلی. دا تنګی بحر اسود او بحر مرمره سره نښلوي، د نړيوال بحري سفرونو له پاره دا په نړۍ کې تر ټولو تنګ لاره ده. چې نږدې لس کيلومتره سور لري. له اسيا څخه اروپا ته د اوښتلو تر ټولو نږدې واټن همدا دی چې يوازې لس کيلومتره اوبو نه ورآخوا اروپا ده. او همدا ځای د اروپا دروازه ګڼله کيږي.

تاريخي قسطنطنيه ښار همدله ودان شوی، چې د شرقي روم پلازمېنه ګڼل کېدو، او هرقل يې پاچا و، رسول الله صلی الله عليه وسلم يې فتحه کونکي ته زيری ورکړی. چې همدا زېری په (۱۴۵۳ز) کې د ځوان عثماني خليفه (سلطان محمد فاتح) په برخه شو.

په دې تنګي له پاسه دوه پلونه جوړ شوي. يو يې (پاسفورس پل) دی چې په (۱۹۷۳ز) کې بشپړ شوی، او (۱۰۷۴) متره اوږوالی لري، او بل بيا د (سلطان محمد فاتح پل) چې په (۱۹۸۸ز) کې کاروني ته سپارل شوی له لومړي هغه پنځه کيلومتره شمال ته جوړ شوی او (۱۰۹۰) متره اوږوالی لري، او همدا راز تر اوبو (۵۵) متره لاندې يو تونل هم تېر شوی چې نږدې څوارلس کيلومتره اوږوالی لري.

### ۵. دردنیل تنگی:

هم د ترکیې په خاوره کې موقعیت لري، دا تنگی نږدې (۴۰) میله اوږوالی او له یوه میل څخه تر څلور میله سور لري، د آسیا او اروپا ترمنځ د بېلتون کرښه گڼله کیږي. او بحر مرمره له مدیترانې سره نښلوي، په لومړي ځل په څورلسمه میلادي پېړۍ کې د عثماني خلافت په واک کې راغلی ، او ډېر تاریخي قدامت لري،په (۱۸۳۳ز) کې چې روسانو د مصر یاغي واکمن (محمد علي باشا ) خلاف د عثماني خلافت مرسته وکړه هغوی یې په بدل کې روسي بېړیو ته له "دردنیل " تنگي څخه د تېرېدلو بشپړه اجازه ورکړه، دا خبره اروپایانو ته ډېره بږنوونکې وه ځکه د اروپایانو له پاره د عثماني خلافت قانون داسې و چې هغوی نه شي کولی له دې لارې جنگي بېړۍ، یا نور جنگي اکمالات تېر کړي.

نو ځکه هغوی تل په دې هڅه کې وو چې دا تړون باید مات شي، هغه وچې په (۱۸۴۰ز) کې د اروپایانو د فشار له امله ترکیې دا تړون لغوه کړ، او بیا د لومړۍ نړیوالې جگړې په مهال دا سیمه یونانیانو ته وسپارله شوه، خو په (۱۹۲۲ز) کې یې ترکي حکومت بېرته واک تر گوتو کړ.

## ۶. ملاکا تنګی:




ملاکا تنګی د اندونزیا ، او ملزیا تر منځ موقعیت لري، چې بحر هند او بحر الکاهل سره نښلوي،یاد تنګی (۸۰۵)کیلومتره اوږوالی لري، او تر ټولو تنګ جای په "رودبار" نومې سیمه کې دی چې یواځې درې کیلومتره یا تردې هم لږ (۲،۸ کم) واټن لري، له اقتصادي پلوه د باب المندب، او جبل الطارق، په څېر دا هم ډېره مهمه لاره ده چې بحر هند او بحر الکاهل ترمنځ د تللو یواځنۍ دروازه ده، له اروپا ، افریقا ، او یاهم عربي نړۍ او هند څخه چین او د آسیا لوېدیځو هیوادونو ته د تللو مرکزي لاره ده.

وېل کیږي چې په کلني ډول پنځوس زره بحري بېړۍ له همدې تنګي تیریږي، چې د نړۍ د اقتصاد څلورمه او یا پنځه جوړه وي او همدا زار په نړۍ کې په تېلو بار بېړیو څلورمه له همدې دروازې تګ راتګ کوي.

د دې تنګي ارزښت ته په پام سره نړیوالو داړه مارانو د مالیزیا یوه وړه یهودمېشته سیمه د (سینګافور) په نوم ترې بېله کړه تر څو هغوی په دې تنګي واکمن او یا لږ تر لږه یو لوری وي.

## ۷. ډور تنګی:




ډور تنګی د انګلستان (برطانیې) او فرانسې ترمنځ موقعیت لري، او اقیانوس سمندره (.....) څانګه (خلیج) له شمالي بحېرې سره نښلوي. تر ټولو کم سور یې په (ډور) نومي سیمه کې دی چې (۲۱) میله واټن لري، په همدې سیمه کې د برطانیې او فرانسې ترمنځ تر اوبو لاندې په نړیواله کچه مشهور تونل (چېنل تونل) کندل شوی چې د دواړو هیوادونو ترمنځ د تګ راتګ لاره ده.

## ۸. بیرنګ تنګی




د شمالي امریکا د الاسکا ایالت، او روسیې د سایبېریا د څوکې تر منځ تنګی دی چې بحر الکاهل او شمالي منجمد بحر سره نښلوي، سور یې (۶۴) کیلومتره دی، وېل کیږي چې په لومړي ځل مسلمانان له همدې تنګي تېر او د امریکا وچې ته رسېدلي وو، خو څرنګه چې ځکه ګول او د کروي شکل لري نو ځکه هغوی په دې نه پوهېدل چې دا له خپل ټاټوبي پرته د بحر ظلمات ورآخوا کومه بله وچه موندلې ده.

تر (۱۸۶۷ز) پورې دا تنګی د روسانو تر واک لاندې و، کله چې په همدې کال کې امریکایانو د (الاسکا) ټاپو وزمه له روسانو څخه واخیستله نو یاد تنګی د دواړو ترمنځ ووېشل شو، او ډېر ځله په کې د ښکار او حق العبور په سر د دواړو ترمنځ ستونزې هم راپورته کیږي.

خو څرنګه چې دا سیمه شمالي قطب ته نږدې، او له منجمد شمالي سمندر سره لګېدلې ده نو ځکه د مني او ژمي په موسمونو کې په سمه توګه کار نه ترې اخیستل کیږي، ځکه چې او به یې کنګل کیږي. او بله دا چې نړیوال تجارت کې هم زیات رول نه لري، چې له امله یې ارزښت کم شوی.

**یادونه**:

په دې اته تنګیو کې لومړني شپږ یې د تجارت له پاره ډېر زیات ارزښتناک او په اسلامي نړۍ کې موقعیت لري، د مسلمانانو ملکیت دي، متأسفانه چې نن سبا یا خو د هغوی له ملکیت څخه ایستل شوي او یا هم یوازې په نوم د مسلمانانو دي، اصل واک یې له غرب سره دی، هغوی چې کله هم وغواړي په دې لارو تېرېدلی او څه هم چې وغواړي تېرولی یې شي، تر دې چې له دې تنګیو د سترو او تش په نامه نړیوالو تجارتي بېړیو تېرېدلو اجرت یا حق العبور یې هم د هغوی له لوري ټاکل کیږي، او بله لا دا چې وبل کیږي د جنګي بېړیو تېرېدلو خو بېخي حق العبور نشته.

# لسم فصل

## د ځمکنۍ کرې په زړه پوري معلومات:

۱. د غره تر ټولو لوړه څوکه د همالیې په غرونو کې "ماؤنټ ایوریسټ" ده، چې (۸۸۴۸) متره جګوالی لري.

۲. د ځمکې په مخ تر ټولو ټیټه سیمه "بحر میت" دی چې د سمندر له سطحې (۴۲۰) متره ټیټوالی لري.

۳. په نړۍ کې تر ټولو ګرمه سیمه د لیبیا العزیزیه ښار دی چې د تودوخې کچه یې (۵۸) سینټي ګرېډ ته لوړیږي. او ټیټه یې تر (۱۴) سینټي ګرېډ نه رالویږي.

۴. په نړۍ کې تر ټولو سړه سیمه په انټراکټیکا کې (وسټوک اسټیشن) ده، چې د تودوخې کچه یې منفي نوي(۹۰-) ته رسیږي.

۵. تر ټولو وچه سیمه جنوبي امریکا په "چلي" هیواد کې "اریکا" نومې دښته ده.

۶. د نړۍ تر ټولو ستره دښته صحرای اعظم) په شمالي افریقا کې ده چې نږدې (۳۵۰) میلیونه مربع میله پراخوالی لري.

۷. په نړۍ کې تر ټولو ستر ځنګل (امازون ځنګل) د جنوبي امریکا په برازیل نومي هیواد کې دی.

۸. د غرونو ترټولو اوږده لړی په جنوبي امریکا کې (کوه انډیز) ده. ...........

۹. په نړۍ کې تر ټولو ستره جزیره (ګرین لینډ) ده، چې (۲,۲۰۰۰۰۰) مربع میله پراخوالی لري.

۱۰. د واورې تر تولو دنګه غونډۍ "ګیون بجورن" په ګرین لینډ کې ده، چې (۳۷۰۰) متره جګوالی لري.

۱۱. په نړۍ کې تر ټولو ستره ټاپوزمه (شبه جزیرة العرب) ده (۲۲۰۰۰۰۰) مربع میله پراخوالی لري.

۱۲. په نړۍ کې تر ټولو ستر هیواد روسیه ده، چې (۱۷۰۷۵۴۰۰) مربع کیلومتره مساحت لري.

۱۳. په نړۍ کې تر ټولو وړوکی هیواد "واتیکان" دی چې تر نیم مربع کیلومتر هم لږه (۰،۴۴) مساحت لري، او همدا د عیسائي مذهب د کاتولیک ډلې مرکز ګڼل کیږي.

۱۴. په عربي نړۍ کې تر ټولو وړوکی هیواد بحرین دی، په عربي خلیج کې وړه جزیره ده چې یوازې (۲۲۹) مربع کیلومتره مساحت لري، او له سعودی سره د یوه پل په مټ تړل شوی.

۱۵. په نړۍ تر ټولو ګڼ میشت هواد سینګافور، بیا بنګله دېش، او بیا مالټا ګڼل کیږي.

۱۶. د سمندر له سطحې تر ټولو لوړ ښار د جنوبي امریکا د "بولیویا" هیواد پلازمېنه "لاپاز" دی.

۱۷. په نړۍ تر ټولو زیات تېل په سعودي کې دي.

د سمندریزې کورې معلومات

۱۸. په سمندر کې ترټولو ټیټه او زوره نکته په آرام سمندر کې له ګوام ټاپو سره نږدې (مارینیا ترینچ) نومې کنده ده. چې (۱۱۰۳۳) متره ژوروالی لري.

۱۹. په نړۍ کې تر ټولو اوږ سیند "نیل" چې نږدې اوه زره میله اوږوالی لري.

۲۰. د بهاندو اوبو تر ټولو ستره ذخیره د جنوبي امریکا "امازون" دریاب دی.

۲۱. په نړۍ کې د تودو اوبو تر ټولو ستره چینه په نیوزیلینډ کې (ایمانجون) چینه.

۲۲. د تروو اوبو تر ټولو ستره ذخیره د ایران او قفقاز هیوادونو ترمنځ پوروت "کاسپین سمندرګی" دی.

۲۳. په نړۍ کې تر ټولو لوړ جهیل په جنوبي امریکا کې د بولیویا، او پیرو هیوادونو ترمنځ (ټیټي کاکا) نومی جهیل دی چې د سمندر له سطحې (۵۰۷۱۲) فوټه لوړوالی لري.

**۲۴**. په نړۍ کې تر ټولو لوړ آبشار (جوړندک) د جنوبي امریکا په وینزویلا هیواد کې "**اینجل**" نومی آبشار دی ، چې لږ کم یو کیلومتر(**۹۷۹**: متره) لوړوالی لري. وېل کیږي د اوبو شور او جوړهار یې څو کیلومتره لرې اورېدل کیږي.

**۲۵**. په سمندر کې تر ټولو جګې څپې د جنوبي افریقا په "ګپ ټاون" سیمې کې وي،چې جګوالی یې تر (۴۰) کیلومتره رسیږي.

## د ځینو نومونو معناوې

۱. **شام**: وېل کیږي چې د نوح علیه السلام د زوی (سام) له نوم څخه اخیستل شوی، **هغه** همدلته استوګنه کوله.

۲. **بحر میت**: دا نوم ځکه ورته اخلي چې هیڅ ژوی په کې نشته.

۳. **بحر احمر، ابیض، اسود**: داسې نه چې اوبه یې په دې رنګ دي، بلکې لاندې ځمکه یې داسې رنګ لري نو ځکه همدا نومونه ورته اخیستل کیږي.

۴. **دمشق**: د ببرې په معنا دی او دې ښار ته ځکه دمشق وایي چې په ببره ودان شوی.

۵. **غزه**: د قوت او زور په معنا ده.

۶. **کویت**: د "کوت" تصغیر دی چې د "کلا" معنا ورکوي.

۷. **استانبول**: ځینې علماء وایي: په اصل کې "اسلام بول" چې د "مدینة السلام: د امن ښار" معنی و، خو بیا له ترخیماتو وروسته "استانبول" ترې جوړ شو.

۸. **لبنان**: د سپین په معنا دی.

۹. **ایتهوپیا**: د یوناني ژبې لفظ دی چې د مخ سوځېدلي په معنا دی، څرنګه چې د دې سیمې د ډېری خلک تور دي نو ځکه ورته ایتهوپیا وېل شوي.

۱۰. **قبرص**: د پیتلو په معنا کارول کیږي.

والله أعلم

# یوولسم فصل

# پوښتنې او ځوابونه